Kandahar. Kabul
Vol.15, No.1, Hamal 1353
(March 1973)

Apr 74

کندهار

اطلاعات او کلتور

د ۱۳۵۳ لمریز کال
د حمل لومړی ګڼه

د تاسیس کال ۱۳۳۹



د کندهار مجلې چې د ښاغلي محمد داؤد د حکومت په دوره کې
په خپرونو پیل وکړ اوس د دغه ملي رهبر په پیغام
خپل محور لسم نشراتي کال شروع کوي

مسئول مدیر : کریم (طالب)

مهتمم : رحمت الله (مړوند)

اداره: د شهیدانو واټ

د ۱۳۵۳ کال دوری میاشت

د کندهار مجله

څورلس کلنه سوه

د کندهار مجله د دی کال له نوی کیدو سره څورلس کلنه شوه دا نو د ۱۳۳۹ کال د پسرلی لومړی میاشت ده چی د کندهار مجلی د هیواد په مطبوعاتی افق کی طلوع وکړه.

دا چی دی موقری مجلی د خپل مطبوعاتی خدمت په دوران کی څونه فرهنگی خدمت کړیدی البته دا د لوستونکو قضاوت ته محول خبره ده خو دا حقیقت باید له یاده وتلی نه وی چی د ذهنی تنویر په لار کی د دې مجلی خپرونی بی اغیزی نه دی پاتی سوی.

په هغو ورځو کی چی د کندهار مجله منځ ته راتله زموږ د جمهوری دولت اوسنی رئیس او ملی پیشوا ښاغلی محمد داؤد د افغانستان د صدارت عهده پر غاړه درلوده او د هیواد د فرهنگ په اوچتیدو کی لویی هڅی روانی وی.

د هیواد د ملي رهبر د دغو هڅو په لمانځنه د دغی مجلی د لومړنی گڼی پر پشتی د ښاغلی محمد داؤد عکس چاپ سویدی چی په کندهار کی یوه عمرانی پروژه گوری.

د کندهار مطبوعات چی د خپلواکی دا خیستلو څخه وروسته په منظم ډول فعالیت لری طلوع افغان یی یوه ورځپاڼه ده او یو وخت د دغه اخبار په څنگ کی د پښتو په نامه یوه مجله ورسره چاپیدله خو کله چی د کندهار ادبی انجمن د پښتو ټولنی سره په کابل کی یو ځای سو نو هغه مجله هم له منځه ولاړه څو هغه ؤ چی څو کاله وروسته د هغی مجلی پر ځای د کندهار د غه مجله منځ ته راغله چی دا دی نن یی موږ د تاسیس څورلسمه کالیزه پر ځای کوو.

د کندهار مجله چې د کندهار په مطبوعاتو کی منځ ته راغله او د کندهار د لیکوالو او روشنفکرانو یوه ارزووه چی په سرو رسیده او د دغی ارزو د په سر رسیدو په لار کی د هغه وخت د مطبوعاتو د مدیر ښاغلی ولی زلمی هڅی د قدر وړ دی او دا یادونه ضروری گڼو چی د دغی په زړه پوری مجلی د مؤسس په حیث د هغه یاد په درناوی وکړو.

د څورلسو کالو په دوران کی د کندهار مجلی په کافی اندازه علمی مواد ټولنی ته وړاند کړیدی.

د تیرولسو کالو په دوران کی چی زموږ پر مطبوعاتو یو تور پلو غوړیدلی ؤ خو دا خبره د هیریدونه ده چی په دغو ورځو کی بیا هم د کندهار مجلی په شهامت سره هغه علمی او تحقیقی مواد وړاندی کړیدی چی هغه زموږ د علمی تندې له پاره د دوا حیثیت درلودی.

دا چی نن زموږ پر ټولنه د جمهوریت نظام حاکمیت لری او د دغه نظام په برکت مو د هیواد گوټ گوټ روښانه سویدی نو په دغه دوره کی د مطبوعاتو وظیفه هم تر هر وخت درنه سویده.

مطبوعات د جمهوریت په حاضره دوره کی د یوې سالمی تبلیغی وسیلی په حیث باید عامه اذهان تنویر کړی او دا کار یو رسالت دی چی د نوی ملي نظام له خوا د مطبوعاتو پر غاړه ایښوول سویدی.

دا حقیقت د مطبوعاتو او د مطبوعاتیانو په نزد ډیر روښانه دی چی زموږ ملی فرهنگ د حاضر ملی نظام

«پاته د پشتی په ۳ مخ کی»

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005
6 CONTINUATION 6

د نوی کال په مناسبت د دولت د رئیس او صدر اعظم ښاغلی محمد داؤد پیغام

ګرانو خوندو او وروڼو!

د افغانستان د جمهوریت د لومړنی نوی پسرلی او د نوی کال لومړنی ورځ د مملکت په هر ګوټ او د نړۍ په هره سیمه کی چی یاست تاسو خوندو او وروڼو ته د ځان او خپلو ملګرو د خوا د زړه له کومی مبارکی وام او ملی ګډو هدفونو ته د رسیدو د پاره چی زموږ د وطن سرلوړی او د خلکو نیکمرغی تضمین او تأمینوی د لوی خدای (ج) څخه د ملت افرادو او د جمهوری دولت کارکوونکو ته بریالی توب غواړم.

هغه کال چی تیر سویو تاریخی کال ؤ چی زموږ لرغونی خاوره د خپلو څوزرو کلونو تاریخ په اوږدو کی په کراتو د هغه شاهده وه.

د تیر کال د سرطان په ۲۶ نیټه زموږ تاریخی ستر انقلاب چی یوازی د افغانستان د ملت د ارادی څخه بی سرچینه نیولی و. د وطن د فداکارو اردو د همت په طاقت او سربازی منځ ته راغی او د خلکو د ټولو طبقو په تیره بیا د منورو او وطن پالونکو ځلمیانو د خوا د زړه له کومی احساساتو او ملاتړ له داسی تر د هر کلی سره مخامخ شو چی په خپل ذات کی زموږ د هیواد په تاریخ کی بی ساری ؤ او خاطره به یی د افغان د هر وګړی د پاره د ویاړ څخه ډکه او نه هیریدونکی پاتی وی.

د دغه ملی انقلاب په رڼا کی په هیواد کی د جمهوریت مترقی نظام ټینګ شو او د دغه نوی نظام په رڼا کی تر کومه ځایه چی په څو تیرو میاشتو کی یی امکان درلود د یوی خوا یی د ډول ډول او بیلو بیلو مشکلاتو د حل په لار کی چی د پخوانی رژیم څخه د یادګار په ډول پاتی وه نسبتاً ګټور ګامونه واخیستل شول او د بلی خوا د یوه نوی افغانستان د آبادولو په غرض چی وکړه سی خپل ملی حیثیت چی د هغه سره ښایی وساتی په همدغو څو مختصرو میاشتو کی د ټولنی په اقتصادی، اجتماعی او سیاسی ژوندانه کی یو لړ داسی تحولات شروع شوه چی البته د ګرانو وطنوالو په بیساری ملاتړ سره په دوام وکی.

مهم سوال دا دی چی یو ملت د نړۍ په اوسنیو شرایطو او زموږ د عصر سره موافق څرنګه کولای شی په شرافتمندانه ډول ژوندو کی او عالی هدف ته د رسیدو د پاره کومی وظیفی او مکلفیتونه سر ته ورسوی.

طبعاً نه شو کولای دغه مهم سوال ته په څو لنډو کرښو کی په تفصیل جواب ووایو. خو یقین دی د ملی شعور، د ملی ګڼو او ښه تحلیل او تشخیص په لرلو د عمل او نظر د یووالی په تامین او ترټولو مهم په بی خلله او دوام دار ه قاطع تصمیم سره یو ملت کولای شی په پای کی هغه عالی هدف ته ورسوی او بایی څه ناڅه نژدی کی.

زه د تاریخ د تر خو تجربو څخه هیله لرم د افغانستان د ملت قاطع تصمیم هم داوی.

د هغه ملت د پاره چی نوی یی د تکامل په لار کی ګام ایښی دی او لا هم په مخ کی ستر مشکلات او مسئولیتونه لری مقصد ته د رسیدو لمړی شرط د ځان د نقصانونو او کمزورو ټکو درک او تشخیص او وروسته بیا د نقایصو د بشپړیدو او د هغو ضعیفو ټکو د اصلاح د پاره هڅه او کوښښ دی.

هغه ملت چی و نه غواړی او یا و نه کړای شی خپلی نیمګړتیاوی درک او یا د درک کولو په صورت کی په پوره ایمانداری او قوی عزم د هغو په اصلاح کی کوښښ و نه کی هر هغه کوښښ و تلاښ چی خپل مطلب کمال ته د رسیدو د پاره یی کوی ښایی بی ثمره وی.

نو له دی امله زموږ څخه هر یو
په هر ځای هره وظیفه او هر مقام
کی چی یو باید د هر شی د مخه

د غه میړانه ولرو چی د خپل شخصی
او ملی نقایصو د درک کولو په لټه
کی سو. او د زړه له کومی د هغو

په اصلاح پیل وکو په دغه صورت
کی کولای سو د خدای (ج) په لطف
ډاډه واوسو چی ډیر ژر به خپلو

عالی هدفو ته ورسیږو.
ګرانو وطنوالو!
لکه څنګه چی زموږ د جمهوری

نظام ټینګښت د وطن د یوی ډلی
د میړنو او فداکارو زامنو د
فداکاری محصول دی د دغه نظام

وده او تکامل نه یوازی د دوی
فداکاری او زیار ایستل بلکه
د افغان د هر فرد زیار ایستل او

فداکاری غواړی چی هیله لرم
د مملکت د اجتماعی او د اساسی
ګټو په رعایت کولو زموږ ټولنه

د مقصد پړاو ته نژدی کی.
کله چی د هیواد ګټی او د خلکو
ګټی منځ ته راځی ستر او مهم

مسئولیت ټولو هغو افرادو ته
متوجه کیږی چی د هغو مخه هر یو
په خپل وار د خپل توان په اندازه

او د خپل اجتماعی مقام په تناسب
باید د مملکت د ګټو په رعایت کی
کوښښ وکی او د خپلی ټولنی ګټی

وساتی تر څو چی د دغی لاری مو
خپلو خلکو او مملکت ته ښه
خدمت کړی وی.
په ځینو مواردو کی امکان

لري چی ملی ګټی د شخصی ګټو سره
ټکرو کی او دغه وخت دی چی
واقعی وطن پالونکی شخص د

فداکاری څخه کار اخلی او د عامه
مصلحت او ګټو د پاره خپلو شخصی
او خصوصی ګټو ته نه ګوری.

تاریخ ښیی هغو ملتونو چی
عزم یی کړی دی په ځان باندی
متکی وی خپلی منابع په کار

واچوی او ځانته یو ملی ژوند
جوړ کړی او په دغه لار کی د هیڅ
ډول کوښښ څخه ځان ونه ژغوری

حتما بریالی شوی دی.
ولی د افغانستان ملت د دغی
رویی پیروی ونه کی.

ولی وس چی زموږ په ژوندانه
کی نوی فصل پرانستل شوی دی
د نورو ملتونو په شان په یوه نه خلل

موندونکی تصمیم سره چی زموږ
په شان او زموږ سره یی یو ځای
شروع کړی ده د ترقی په لور

پرمخ لاړ نه شو.
په ځای ده چی د بسرلی په دغه
فصل کی د ټولنی د خدمتګارانو

د نجیبو بزګرانو او کرو ندګرو
څخه چی هم د مملکت د اقتصادی
بنسټ په ټنګښت او پرمختګ کی

ستر نقش لری او هم د مملکت د هر
ګوټ سمسور تیا د دوی د نه ستړی
کیدونکو هڅو او خولو تویولو

مرهون ده په حق شناسی سره
یادونه وکو. او د ټولنی د دغو ګټورو
او مهمو عناصرو د وجود اهمیت
ښه او زیات درک کړو په تیره بیا

زموږ د هیواد د نفوس اکثریت چی تر
اوسه پوری په حقیقت کی یو زراعتی
هیواد دی همدغه زیار ایستونکی طبقی
تشکیلوی. نو له دی امله جمهوری دولت
لکه څنګه چی څو کرته یی ویلی دی
د افغانستان د خلکو اکثریت ته خدمت چی
دغه زیار ایستونکی طبقه د هغه مهم جزء
ګڼل کیږی خپله یوه مهمه وظیفه ګڼی.
امید لرو د بزګرو د اجتماعی او
حیاتی حالت د ښه کیدو په لاره کی د دولت
دوامداره کوښښونه نتیجی ته ورسیږی.
او د دوی په ژوندانه کی یو مثبت او سالم
تحول منځ ته راسی.
تر څو چی د وطن د دغو حقیقی خادمانو
حق پیژندل په رښتیا سره د ټولنی د خوا
تحقق مومی. د افغانستان زامنو!
زموږ وطن او جمهوری نوی نظام
زموږ ټولو څخه انتظار لری په هم هغه
اندازه چی زموږ راتلونکی وظیفی او
مسئولیتونه سخت او درانده دی په هم هغه
تناسب باید زموږ کوښښ زیات زموږ عزم
بی خلله زموږ همت ډیر عالی وی.
هیر نه کړی هغه څه چی زموږ تیرو
سو وکسانو سر ته رسولی دی او نن موږ
د هغه قضاوت کوو هغه څه چی نن یی موږ
سر ته رسوو سبا به د تاریخ او د راتلونکو
نسلونو د قضاوت وړ وګرځی.
خدای (ج) دی ونه کړی چی د خدای په
حضور او د تاریخ د قضاوت په مخ کی
شرمنده او سرټیټی اوسو.
په پای کی یو ځل بیا نوی کال تاسو
ټولو او ټولو هغو پښتنو او بلوڅو ورونو
ته چی په خپل ملی پیکار بوخت دی او د نړی
ټولو خلکو ته د زړه له کومی مبارکی
وایم.
هیله لرم د غه نوی کال د نړی د ټولو
خلکو د پاره د سولی او نیک بختی کال وی.
سر لوړی دی وی افغانستان
تل دی وی جمهوریت

دم-ابراهیم (عطائی)

لیکنه اوڅیړنه

دقدیمی نړۍ په فولکلور کی دهومیریک اثار وارزښت

دولسونو په ادبیاتو کی خوراښه ادبیات هغه دی چی دهغو تخلیق پخپله دولس له خوا شوی وی، یعنی خپله دټوله ولس دفکر اوژبی محصول وی.

دغه محصول نه یواځی هغه فولکلوریک ادبیات دی چی هغه په ولس کی په کوم ټاکلی شخص اړه نه لری بلکه یوټاکلی ولس په دسته جمعی ډول د هغه هنری اثرونو پیداکوونکی او مالك وی.

په هغه فولکلوریك ادبیاتو کی چی شفاهی رنګ ولری د سادګی او دجامعیت یا اجتماعیت دفلسفی په رنګ کی ډیری داسی ښکلاوی پرتی وی چی دمشخصو هنرمندانو اثارله هغه تر ډیره ځایه برخه نه لری.

دغسی شفاهی اثار چی دبشری فولکلور غوره ذخایر تشکیلوی دهغه نوم ورکی هنرمند دذهن او ادبی ژبی محصول وی چی د اجتماعیت دحاکمیت په برکت دانفرادیت تر سیطری لاندی لانه وی راغلی.

دبشر قدیمی فولکلور په ادبیاتو خوراغنی دی اودا و داجتماعی څیړنو دعلماؤ ډیر تازه ابتکارؤ چی ددوی دبشر داجتماعی تاریخ دکره کولو له پاره فولکلور ته مراجعه وکړه او په یقین سره یی ثبوت ته ورسوله چی بشری فولکلور دخپل ټول خرافاتی اشکالو سره په خپل ماهیت کی ډیر داسی څه لری چی دهغو څخه دهغه اولنی انسان دمناسباتو په باره کی پیژندنه میسر یدای شی چی دتاریخ داثارو او لیکنی قدرت هلته له رکود سره مخامخ وی.

دبشر په لسانی تاریخ کی ډیری بڼی او پخی ژبی هغه دی چی هغه قوی فولکلوری ادبیات ولری.

په یونانی ژبه کی چی دفولکلور کوم ذخایر موجود وه او هغه په یوه زمانه کی اساطیر په نامه دمتروك کیدو خواته وهل شوی ؤ نو نن هغه یواځنی څرك دی چی موږ ئی داولنیو انسانانو داجتماعی روابطو د پیژندنی له باره استخدامولای شو.

د(هومیریك) عصر اثار سره له دی چی دخرافاتو په بنډو پوښونو کی پیچل شوی دی خو موږ سره له دی هم کولای شو چی زیات حقایق پکښی کشف کړو او له دغو حقایقو څخه داجتماعی تکامل لوی رموزات ځان ته معلوم کړای شو.

د پخوانیو انسانانو په ادبیاتو کی یو شمیر کیسی شته چی په شفاهی ډول یی یو دبله سره ویلی دی او سینه پر سینه راپاللل شویدی څو دلیکنی غیږی ته لویدلی دی.

دغه شفاهی کیسو اکثراً د تقدس په جامعه کی له هیریدو څخه ځان ساتلی دی چی د هومیر داستانونه همدغه ډول دی.

دنړۍ په قدیمی ادبیاتو کی ویدیك ادبیات دیو قدیم فولکلور تمثیل کوی او دهغه کیسی چی معروفی یی (راماین) او (مهابارات) دی داریایی اقوامو قدیم ترین کلتور معرفی کوی.

موږ دبشر په فولکلوریك ادب کی په زیاته پیمانه دشاپیریانو او پیریانانو کیسی لیدای شو چی دهر ځای هغی دمحیطی شرایطو په تحت کی انکشاف راکړیدی.

دمثال په ډول په هغه ځایو کی چی دسمندرونو پرغاړو واقع دی نو ددوی د شاپیریو د کیسو

قهرمانان د سمندرونو پر غېږ سپاره وي چې د خپلم په حال کې د سمندر دغاړو وطنونه غرقوي او د خوښې په حال کې د زرغونو ټاپوګانو او زمردېنو ځنګلونو ځغه په ښائسته وزرونو ښکلې پېغلانې په مینه او محبت د دوی پر وطنو په الوتنه راولي.

همداسې د غرو او ډګوپه شرایطو کې د داستان قهرمانان له سمندري شرایطو څخه پېل پېل اشکال لري.

د دشا پېریانو داستانونه د انساني تخیل ظرافت دی چې له قدیم څخه تر اوسه دا پا لل شوي دي.

د غسې تخیلات د ټولې نړۍ د ادبیاتو د لسې هغه یوه ښکلې عطیه ده او د بشري فولکلور لومړنی اثار هم له همدغې منبع څخه د ایل کېږي او د مترقي داستان لیکنې تکامل هم له دغې لارې په عمل راغلی دی. هرڅګه چې په هومریك داستانونو کې د قدیم یونان ارباب النوع د خپلو مظاهرو سره توصیف کېږي نو دښه ډېرې زمانې له پاره د مقدساتو له جملې څخه شمېرل کېدل او لمانځنه به یې کېدله او د المانځنه او تقدس هغه عامل ؤ چې دغه قدیم ادبي اثار یې له هېر یدو څخه ساتلي وه.

په دې داستانونو کې هومېر د خپل ولس د قهرمانانو شهامتونه او شجاعتونه ستایلي او د خپل وطن په ساتنه کې یې د وطن د خلکو پاك او سپېڅلي ارمانونه په فوق العاده هنرمندي تمثیل کړي دي نو د او چه ده چې د نړۍ د شاعر د ستانونه د بهترین حماسو په جمله کې شمېرل شوي دي. ایلیاد او اودیسه دوه منظوم حکایتونه دي چې د (تراجان) د جګړو د استانونه پکښې بیانېږي.

ایلیاد پر ۲٤ برخو مشتمل دی او میلاد څخه په ترمخې لسمه پېړۍ پورې چې د تراجان جګړه پکښې پېښه شوې ده اړه لري. په داستان کې د جګړې د روستې نه څلوېښت ورځې د خپلو تولو قهرمانیو سره توصیف شوي دي.

په ایلیاد کې د (اګاممنون) باچا او (اچیل) پهلوان قهرماني، د تراي د ښار محاصره او د یوناني لښکرو غلبه او د تښتول شوې شهزاده ګې بېرته راوستل د داستان غټ ټکي دي.

او ډېرې چې هم پر ۲٤ برخو مشتمل داستان دی د ایلیاد د داستان د روستې برخه تکمیلوي او شروع یې اسې ده چې کله په جګړه کې (اچیل) پهلوان وژل کېږي نو د هغه پر وسله د (اولیس) او (اجاکس) پهلوانانو ترمنځ جګړه پېښېږي خو (اولیس) له لښکر څخه جلا کېږي او پر بېلارې ځان یونان ته رسوي، هرڅګه چې دي د د دریاب پر لارې او کښتۍ یې ماتېږي او له دغه ځایه نو د عجایبو او غرایبو سره مخامخ کېږي.

(اولیس) وده یو ویښت کال له سرګردانه ګرځي د (سیکلوپانو د دریابي د چان چې وه سترګه یې درلوده) جګړې کولې، د سمندرونو له باچا اسکو سره د غرې وهي او اژدهاوانو څخه ځان خلاصوي خو په ډېرز حمت لاړ پیدا کوي او کورته راسېږي د ه نیت کېږي چې که یې ماینې بل مېړه کې ژوژنې به یې خو کله چې کورته راځي وینې چې هغه لاددده پرنامه ناسته ده نو خو شحا له کېږي.

د اوده د استانونه دا ېې ډېر قدیم د استانونه دي چې تران پورې پا نه دي.

د (تړای) کیسه چې د ایلیاد موضوع ده او په حقیقت کې د ټولو دغو داستانونو شمېرې (ستون فقرات) جوړوي.

هرڅګه چې د بشري فولکلور یوه قدیمه نه ده نو دلته یې په ډېر اختصار سره لنډیز راوړو.

کیسه داسې ده چې:

د (تړای) د باچا زوی (پاریس) د یونان یوه ښکلې شهزادګې و تښتوله، د شهزادګې د (لیدا) لور د (پلوکس) او (کاستر) خور او د (منېلاس) مایند وه.

هغه مهال چې باچا (اګاممنون) د دې پېښې څخه خبر شو نو په چټکې ښې د جګړې ترتیبات ونیول او د تړای باچا ته یې د جګړې اعلان وکړ او د خپلو غښتلو پهلوانانو (اچیل) او (اولیس) سره د جګړې ډګر ته حاضر شو.

د تړای باچا هم د خپلو زامنو (هکتور) او (پاریس) سره جګړې

ته ر اغلل.

چکړه د ټولو تشریفاتو سره شروع شوه.

هغه مهال چې جګړه توده روانه وه د باچا اګاممنون او اچیل پهلوان ترمنځ خوابدی

پېښه شوه او اچیل پردی خوابدی شو چې پاچا ده ته په سپک نظر کتلی دی.

د جګړې څخه د اچیل په وتلو د ټرای لښکری وار په وار بریالی کیدی خو د اچیل نږدی ملګری

(پاترو کل)) د ټرای د باچا زوی هکتور وواژه او اچیل ته قهر ورغی او جګړې ته داخل شو،

ده په اوله ضربه (هکتور) وواژه او بیایې پلار ته ور تسلیم کړ، د هکتور تروژلو وروسته د ټرای

لښکری ښار ته ننوتې او ښاریې کلابند کړ.

یونانیانو چې هر څه انتظار

وبوست د ښار پرخلاصیدو بریالی نه شول نو وروسته یې بوچل وکړ او د لرګو یو آس یې جوړ کړ و

د هغه په اس لنوتل او په دغه لویه ښار ته داخل شوه. د وی چې ښار ته ور غلل نو د آس له ګیډې

را ووتل او د ښار خلک یې ټول ترتیغ وکښل او د یونان شهزادګی یې بیر نه راو ستله

او هغه چا چې د غسې بدکار کړی ؤ

ټول له په خپله سزا ورسیدل.

په داستان کې خرافاتي برخې چې د قدیم یونان د عقیدې

جزؤ خوراچې په برخه لرې مثلاً وایي چې ټوله خدایان دا لمپ له غره څخه را کښته شوي وه

او د یونان له پهلوانانو سره یې د ټرای د خلکو پر ضد مرسته کوله.

اچیل پهلوان ته مور په اسې اوبو کې غسل ور کړی ؤ چې بدن یې ټوله داو سپنې شوی ؤ

یواځې د ښې بجلکه یې لګېده او کله چې په جګړه کې په زهرولې لی غشی دده د ښې پر دغه پر خه ومو

ښت له هغه څخه مړ شو.

دا د بیا تو او غو لګلو د ځیر ونکو پوهانو د دغو تاریخي

داستانو له ځیرنې څخه داسې نتیجه ایستلې ده چې دا داستانونه په هغو زمانو پوری اړه لري چې

اریایي بېرد او پاخوا ته ورشوه کیدی او د هغو سمو له بومي اقوامو سره یې جګړې

کولې.

د دغو داستانو حکایات البته قدیم وه او په ولس کې په شفاهي

ډول ویل کیده خو د میلاد څخه په اته سل مخې پیړۍ کې هومیر هغه منظوم

کړل.

ادب او عدد

هر څه چې په نړۍ کښې رنګ رنګوالی او تنوع لیدل کیږي او د بیلو بیلو شیانو او پېښو ترمنځ تضادونه او تناقضونه شته نو هر څه د همدغو تنوعاتو د بیان او توضیح لپاره له عدد څخه کار اخستل کیږي او بیا همدغه عدد دې چې ادب ته یې

هم پېښه ورغزېدلې ده او ادب په دوه ډوله بللې شو: پرمختللی ادب او بیرته پاته او میتذل ادب.

هغه ادب چې په ټولنه کښې ډېرې هیلې او آرزوګانې منعکسوي پرمختللی ادب بلل کیدلای شي او چې د یو وړ

ممتاز اقلیت د هیلو ژباړونکی وي نو بیا میتذل او بیرته پاته ادب یې بللی شو هغه ژبه چې په هغې کښې لومړی ډول ادب

تر بحث لاندې نیول شوی او پکښې د لومړی ډول ادب په مرسته د هیلو څرګندونه شوې وي په دغه ژبه کښې

د همدغه ډول ادب په واسطه مطلوبیت او جذابیت احساسیږي او ادب میتذل یې په ادبي ناستو کښې ستاینه کوي او کومه

ژبه چې په هغې کښې دوهم ډول ادب رول او بولي وي هغه ژبه همدغه دوهم ډول ادب د ابتذال په رنګ او ناروغې اخته

کیږي او له رسیدلې نظره لویږي.....

د لویانو خبرې

که مېړه بې حقیقت وو ایه او شیطان ته خجالت ورکړه.

«شکسپیر»

بې شهامته سړی هغه څوک دی په هغه څې کښې چې د اعتراض ځای وی بې ته خواره کښینی.

(ابراهام)

د (سلیمان) لیکنه

د زړی ډبری د معنوی کلتوریوه تابلو

ننني پراخه او پرله پیچلی بشری ټولنه هم د مادی وسائلو د پیشرفت له نقطه نظره او هم د معنوی خصوصیاتو د تکامل له جهته له پخوانیو او لومړنیو بشری ټولنو څخه خاص امتیاز لری - خو سره د دی هم په مادی او معنوی لحاظ د اوسنی ټولنی او پخوانی جامعی تر منځ نه شلیدونکی اړیکی موجود دی او هم د دغه ارتباط له کبله دی چی مؤرخین او جامعه شناسان (ټولنه پیژندونکی) د حالیه زمانی له تشخیص څخه د تیرو شوو پیړیو اټکل کوی او هم د راتلونکو زمانو په هکله څه ناڅه پیش بینی کولای شی - له همدغه ځایه د تاریخی پوهنی او سوسیولوجیکی (جامعه شناسی) معرفت ضرورت بیخی واضح کیږی.

دا دی د پورتنیو خبرو په نظر کی نیولو سره یو وارد پخوانی بشر د زاړه تاریخ یوه پاڼه را اړه وو او وینو چی د معنوی معتقداتو په سلسله کی هغه انسان چی د ډبری په تبر به ئی لرگی ماتول او ټوله گذران ئی د وحشی حیوانا تو په ښکار کولو سر ته رسیدی، د څه ډول عقایدو خاوندان وه باید وویل شی چی دا لیکنه صرفاً معلوماتی جنبه لری او ډیره فشرده او مختصره ده - البته په دی برخه کی مفصل علمی تحقیق له یوی خوا ډیر لوی کار دی او له بلی خوا د یوی مقالی تر ظرفیت د باندی بریښی.

د زړی ډبری په کلتوری دوره کی چی په غربی اصطلاح (پلولتیک) نومیږی، انسان د خپل فکری او دماغی وروسته پاتهوالی له کبله له ټولو هغو طبیعی قواوو څخه بیریدی چی وده ته ئی شر رساوه او د ټولو هغو طبیعی قدرتو سره ئی د مینی او محبت اړیکی درلودلی چی خیر رسانی ئی وظیفه وه، همدغه د منافعو د جلب او د اضرارو د دفع احساس انسانی ذهن د ټولو طبیعی قدرتونو و احترام ته راټیل واهه، دغه احترام چی صرفاً د وحشت او بیری او قلبی مینی او محبت څخه ئی الهام اخستی د زمانو په تیریدلو سره په لمانځنه او عبودیت بدل شو او په کرار کرار د دغه طبیعی دوو متضادو قواؤ (خیر او شر) لپاره مادی مظاهر پیدا شول چی د دی متعددو مادی مظاهرو و لمانځنه ځانته خاص کلتوری اصطلاحی نوم لری چی (پولتیزم) یادیږی.

د پولتیزم په کلتوری دوره کی د طبیعی قواؤ د معنوی قدرتو د مادی مظهر لمانځنه او عبودیت ډیر ساده او په عین حال کی شاعرانه وه.

هغه رسم شوی اثار چی په توله اروپا کی له متعددو مغارو څخه ولاس ته راغلی دی زموږ دغه ادعا اثباتوی په دی رسمونو کی د (پلولتیک) انسانی جامعی مذهبی معتقدات او جنسونه په واضح ډول رسم شوی دی - د دی رسمونو په جمله کی تر ټولو مهم د هغه حیواناتو تصویرونه دی چی پخوانی انسان وهغه ته د احترام او عبودیت په صفت قایل ؤ.

همدغه راز په ځینی اروپائی ملکو مخصوصاً فرانسه او اسپانیه کی د زړی ډبری د کلتوری دوری د قبرونو بقایا

موږ ودې نتیجې ته رسوي چې د هغه وخت انسانانو د مړي د ښخولو سره علاقه درلوده او په دې معتقدؤ چې مړي په قبر کې بیرته خپل عادي ژوند شروع کوي نو له همدې کبله به ئې د ژوندانه د امرار ځینې ضروري وسایل د مړي سره یو ځای ښخول څو مړي په خپل قبر کې له هغه څخه کار واخلي.

همدغه راز د هغو آثارو څخه چې په اروپا ـ فلسطین کریما او مرکزي آسیا کې کشف شوي دا حقیقت واضح کیږي چې پخواني نندرتال انسان د خپلو مړو د قبرو په حفاظت کې ډیر کوښښ کاوه او عقیده ئې درلوده چې مړي په قبر کې خپل ژوند بیرته شروع کوي نو له همدې کبله به ئې د قبر سر په لویو تیږو رپوښي او اور به ئې پر بلاوه څو په دې ترتیب مړي د وحشي حیواناتو او یخنۍ له ضرره په امان وساتي.

د (پلو لتیک) دوري په معنوي کلتور کې تر ټولو دلچسپه خبره لا داده چې قدیم انسان ځینې مذهبي دسته جمعي جشنونه درلودل چې له دې جملې څخه ئې د بلوغ د مرحلې د شروع جشن ډیر په زړه پورې دی ـ هغه وخت چې به هلک د ځوانۍ و مرحلې ته ورسیدی نو به د کورنۍ د مشرانو له خوا د ده د اخلاقي انحراف د جلوګیرۍ په غرض پایداره کوښښ شروع شو او د دې لپاره چې هلک د ځوانۍ شهوانۍ او احساساتي مرحله د بد اخلاقي و مرداب ته ورټیل نه وهي نو به ئې د هغه د لاس او پښې څوګوتې ځینې پرې کړي او یا به ئې په ځینو نورو مصنوعي ناروغیو اخته کړ څو په دې ترتیب د درد او رنځ په عذاب اخته شي او د شهوانۍ سرکښه قواؤ له غلبې څخه په امن کې پاته شي ـ دا مراسم چې د مذهبي مشر له خوا به علمي کیدل ځانته خاص مذهبي او اخلاقي ارزښت درلود ـ مذهبي مشر چې د جادوګرۍ طبابت او مذهبي قوانینو او اصولو د تبلیغ وظیفه ئې په غاړه درلوده (شامن) نومیدی ـ (دا ډول کسان اوس هم په افریقا ئې عقب مانده او ځنګلي اقوامو کې موجود دي).

د زړې ډبرې باستاني انسانان د دې له پاره چې د حیواناتو د ښکار په مورد کې د قومي او قبیلوي جګړو مخ نیوي وکړي د ښکار توانین چې مذهبي بڼه ئې درلوده په خپل وحشي او بدوي شکل وضع او علمي کول ـ څرنګه چې د دوي ګذاره حد اکثر د حیواناتو له ښکار څخه تأمیدله نو په دغه ښکار کې د موفقیت غرض به ئې د نیک شګوم په ډول د مځکې پر مخ او یا د کومې مغاري پر دیوال د مطلوبه حیوان تصویر رسم کاوه او د غشي په وسیله به ئې دغه تصویر څو واره وشتي، کله چې به غشي د تصویر سره اصابت وکړ نو دا به په ښکار کې د موفقیت الهام بلل کیدی.

داوه د زړې ډبرې (پلو لتیک) د کلتورې دورې د معنوي کلتور یوه تابلو دا چې دغه ډول کلتور د څه رنګه مادي شرایطو محصول ؤ؟ څرنګه ئې تغیر او تکامل وموند؟ او په اوسني انساني جوامعو کې د دغه کلتور بقایا تر کومې اندازې پورې لیدل کیږي؟ دا نو یوه بله پراخه او همه جانبه تحلیل نوشته غواړي چې که ژوند او فرصت ؤ بیا به ئې بل وخت سره اټکلو.

هنري اصطلاح:

رومانس

دا یوه فرانسوي کلمه ده چې په یوه کوچنۍ سندریز پیس باندې دلالت کوي دغه اصطلاح په لویدیزو ادبیاتو کې د لیریکو اشعار یوه کوچنۍ پاړکۍ، پندیا پارچې ته هم ویل کیږي، چې موضوع ئې مینه ده چې د شاعر د خاطر د انبساط یوه تیریدونکې څپه په شاعرانه اندرز ترسیموي.

پوئیټیګا: دا یوه یونانی کلمه ده چې د ادب پوهنې په یوه څانګه باندې دلالت کوي چې د ادب د تیوري او د هنري ادب په باب څیړونکي وي. همدا رنګه دغه کلمه د شاعر یا ادیب د لیکنې په خاص طرز باندې هم دلالت کوي او ګله کله هغه د شاعر یا ادیب د سبک په معنی هم استعمالیږي. د لرغوني یونان نامتو فیلسوف ارسطو د پوئیټیکا په نامه یو اثر لري په کوم کښې چې د ادب په باب اصولي قواعد لوري او کدر بیان شوي دي دغه کلمه که موږ تحت الفظي ترجمه کړو نو روش تري لاس ته راځي.

پښتو کوونکی «نصرت»

د طبیعت ښکلا

دینی کتابونه وائی کله چی خدای تعالی (ج) دنیا پیدا او په شپږمه ورځ تکمیل شوه نوورته وئی کتل چی ډیر ښکلی نړۍ ده رشتیا دا چی زموږ نړۍ چی د خدای تعالی (ج) په نظر کښی چی پیدا کوونکی ئی دی ښکلی وه. نو هغه کسان چی پا دې نړۍ کښی ژوند کوی ځله ئی له ښکلا څخه بی خبره او لذت نه تری مومی.

زما په عقیده د طبیعت په ښکلو منظرو کښی فکر او توجه د ژوند له ښو لذتو څخه دی، او هر څوک چی په دی حصه کښی غفلت وکړی د نیکمرغۍ یوه منبع ئی له نظره لیری کړی ده (همرتون) په خپله یوه رساله کښی چی د ده ترتولو اترونو نوی او روانه ده داسی وائی:

«په طبیعت کښی داسی منظری شته چی قلم ئی له ستاینی څخه عاجز دی: ځکه چی هغه ټول لطف په هیڅ عبارت سره عبیر کیدلای نه سی کله چی د سیند پر غاړه ولاړ، او د څپو زمزمی اورو، او هغه سپین ځګان چی غونډۍ، غونډۍ پر له اوړی وینو، او وختی چی په یوی سر او پایه دښت کښی سفر کوو، او د لویو غرو په لمنو او د تپو په پورته او کښتو کښی د طبیعت ساده ښکلا ته نظر اچوو، او یا هغه وخت چی د اور غورځوونکی غره په لمن کښی ولاړ، او پر سر باندی ئی د اور لمبی وینو په همدی ټولو وختو کښی د طبیعت عظمت او برم احساس، او زموږ روح له عادی محیط څخه وتلی د خیال په فضا کښی داسی پورته ځی چی په ځان نه پوهیږی».

دغه خبره پر ځای ده. رشتیا دا چی د طبیعت لویی او جلال زموږ تر صفت او درک لوړ دی. لیکن ښه داده چی د خپل واک په اندازه ئی له ښکلا څخه بهره من، او په هغو مسئلو کښی فکر کول چی زموږ تر پام او تصور لوړ دی سترګی پټی کړو. طبیعت ښکلی دی لیکن خلک نه پوهیږی سترګی لری خو نه په وینی. ګوری لیکن نه وینی وینی خو د کاینا تو له رازونو څخه خبر یدلای نه سی.

داسی خلک لکه خیالی جسمونه په دی نړۍ کښی سر ګردانه، او د طبیعت په دې پراخ غولی کښی له ټولو نوو او ښکلو مظاهرو څخه لذت او خوند نه اخلی. «روسکن وائی:»

د موجودا تو لیدنه او پوهیدنه یو کار دی چی فقط لوی خلک ئی په سر رسیدو سره بری مومی. موږ هم د روسکن په شان سترګی لرو.

لیکن افسوس چی موږ پا خپلو سترګو د طبیعت له بی شمیره مزایاؤ څخه یوه لطیفه او زړه وړونکی منظره هم نه وینو، او هغه زموږ برخلاف په یوه نظر ټول شیان وینی او هم ئی پا روانه ژبه د نورو خلکو د پاره بیانوی.

«امرسن» وائی: «څوک چی د بصیرت سترګی لری او هره دقیقه نړۍ ته ګوری نوی، نوی شیان وینی نړۍ د هغو په نظر کښی یو نندارتون دی چی مدام ئی پر دی نوی کیږی او هیڅ شی ئی تر یوی لحظی زیات پر یوه حال باندی نه پاته کیږی باغونه او کښتونه په هره ورځ او هر ګړی نوی رنګ مومی، ونی هم ګړی په ګړی خپله بڼه الیشه او ګلان هم هره دقیقه خوشحاله بڼه مومی آسمان هم چی د مځکی ایندار ده

دورحی پەژر رنگه کیږی.

دطبیعت محبت داسی بخشش دی چی هرچا ته نه دی ورکول شوی، هزك چی طبیعت بالی ی له کرم تکلیف او پریشانی څخه ای دمحبت او عفت له خوند څخه داسی برخه اخلی لکه چی تل ای یو محبوب له اړخه سره ناست له بیلتون او آزار څخه ای هیڅ ډار نه کوی.

دا ری ښکلو شیان دطبیعت کوچنی ذری دی او له دې سببه دهغه چا چی طبیعت خرڅ وی دښکلا منبع ته رسیدلی، په بقو ستر گو وهغه سیند ته چی او به ای پاکی صافی دی نژدی شوی په مادی کثافاتو نه ککړ یږی.

دطبیعت سره مینه له هره سببه دلذت او نیکمرغی مایه ده، ځکه چی طبیعت هیڅکله زړه تیا نه مومی، او به دبی وفایی قدم وړاندی کوی. طبیعت یو داسی مهربان عاشق دی چی دخپلی معاشقی دزړه ساتلو دپاره هره ورځ په نوی نوی بڼه ښکاری او به لیدونکی هیڅ کله زړه نه مړیږی پاك وی الایش ارواح قول دطبیعت دمحبت پرچینه او به شوی، دی.

هغه کسان ډیر بدبخته دی چی د طبیعت له ښکلا څخه ای ستر گی بقی کړی دمړو په شان ای ورپاته نه گرځی دلمر له ختو او لویدو څخه خوند، نه اخلی، دپسرلی لښکرای روح نه لړزوی، دبهاندو او بوزمزمی ای احساسات په ښود نه راولی. دښکلو مرغانو شیرین آوازونه ای په سختوزړو کښې اثر نه کوی دگل وړمه، او دبلبل نغمه ای هیڅ نه سره ښورولی.

کله چی دپسرلی شمال چلیږی او دشکوفی پاڼی له ښاخو څخه پرشنو سبزو باندی رژوی، او خپله خوشبویی په هرځای کښې له ځانه سره باشی. په دښتو و بیابانو کښې خودرویه گلان دبادپه چلیدو له یو او بل څخه داسی مینلی لکه د پیغلو نجونو او ځوانو ښځو ډله چی به ځا او لوبو کښې یوله بله په غیږ کښې نیسی. بردا او مرغان په شنو ښو او گلانو کښې ځای نیسی او ورو، ورو خپلی خوږی اوژړه ـ ورونکی نغمې چی دطبیعت له استاد څخه ای زده کړی دی وائی. څوك به وی چی پادی ورځو کښې کرار ناست او روح ای دپسرلی دلمر په تأثیر به جوش راته سی، بقی آروزگانی ای بیدارې، دنیکمرغی خوشحالی به هغه کښې دمطلب ټکی ته نه رسیږی؟ له دی څخه ډارو چی مړی به هم پاقیرو کښې دپسرلی له خوږی څخه کفنونه خیری، هغه کسان چی ژوندی، او دپسرلی د کاروان راتلو ته په ښه زړه سره استقبال نه کوی دمړو په ډله کی شمار او مړه دی چی دژوندی ښکلی ای ښورولی. (جغرڅ) دپسرلی دورځو په ستاینه کښې وائی. د ښتونه بی کوم، په وښو او گلانو کښې ای ورکیږم. دلنه او هلته کونه کونه شنه وانی لکه دزمردو تپی سره مینتی، او سرونه ای آسمانو ته رسیږی. له لیری او نژدی څخه دمرغانو آوازونه غوږو ته راځی او ته به وائی چی دپسرلی دژوند خوښیو او خوشحالیو هرځای او هر شی په ښور راوستلی دی. واښه، ونی او گلان می مخ، مخ ته شوی او راباندی مینلو. پښی می په بوه کوچنی واله کښې چی روانولاندی بهیږی لندیږی. د ونو دپاڼو ښوریدو، دمرغانو الوته می روح په ښور راولی. هلته زما پر سر سر بیږه یوه ډله خوش آواز مرغان په یو سلا الوتی، دآسمان په فضا کښې او ځوړه پور ته ؤ. وروسته دونو په پاڼو کښې سره غلی شوی. مگر ډوږ ای غوږو ته رسیدی. خو ښی او خوشحالی می لکه شپرینی او به دروح په تل کښې ایشی. لمردونو په پاڼو کښې خپله رڼادزرینو گلانو په شان پروښو اچولی، پرپاکه فضا ای سحر امیزه نقش اونگار د شنو وښو پر مخ باندی جوړ کړی دی. لمر می تودوی، دهوا لطافت، او د گلا نو وږ می می روح ته خوشحالی بخښی. زه غواړم چی دهغه نغمه ویونکی مرغه په شان زمزمه پورته، په شنو وښو او چلند شمال کښې ـ پو رته ـ پو رته غور ځیدلی، او پرا ختیاره وخاندم. دپسرلی د هوا وخت اوگړی دانسان په لږ عمر کښې محدو داولیږدی. زه فقط په دی وخت کښې دژوند خوند خوم. دغه طلائی لږ ډیر وخت زما د مګکنی عمر سره اډیکی نه لری.

دا هغه پاڼې دی چې زما د ابدي ژوند له دفتر څخه پېلې شوې او د انساني ژوند له غم انګیز و پاڼو سره یو ځای مېنتې دی» ګمان مه کوی چې د طبیعت ښکلا په بڼ، چمن، دښت او بیابان پورې تړلې وي. ښاروونه هم په خپل وار له ظرافت او ښکلا څخه برخه لري. «وردسوارث» سره له دې چې د طبیعت زړه وړونکی مېن ؤ خو د سهار پر وخت د خپل ښار په ستاینه کښې داسې وائي:

پرته له دې لو یه ښاره بله هیڅ
ښکلی منظره نه شته چې هر سهار
تر لمر ختو د مخه د آسمان په رڼا
کښې د مغې ناوې په شان ایسې چې
پر خپل ځای کراره بیده، او د
سهار زیری ئې پر تندی مچوی.
لوړې ماڼۍ کلیسا وې او نور
ځایونه ئې له غرو سره برابری
کوی. د سهار په رڼا کښې ډېر
ښکلی ښکاری ته به وائی چې دغه
لوړې بناوې د آسمان له ستورو
سره، یو ځای په تدریج سره په
اوقیانوس کښې رڼا پاشي. راز-
او نیاز کوی په دغه ښار کښې زړه،
خو ښوونکی آرامی کرارې
حکمفرما، او ټول له خلک ئې د ناز
پر بستر آرام براته. د ژوند غوغا
نه وی. یا دې آرامی او کرارې
کښې په زړور ژوند پېټې دی چې هغه
راژونه دغرو په لمنو د کاږو
پر غاړه، و بیابانو کښې له شو
موندلای. ډېر وخت نه کیږی چې
د آسمان پیغله د ختیځ له لوری
ښکاره شوی، او خپل زرین ورېښمان
د دیوا لو پر څو کو غوړوی
د اپیغله بیده ژړونه ورو، ورو، د
سهار له خوا ده خوبه بیدار، جنګش
او حرکت ته ئې وادار ه کوي. په
کوشو کښې تګ او راتګ شروع
شوی، او خلک د ژوند غوغا له سره
شروع کوی».

دغه خبره سمه او پر ځای ده.

لیکن «کرای» یوه بله خبره کوی:

«ژوند د ښار په ځلوړو دیوالو او د ژوند د غرغا په منځ کښې انسان
ستړی کوی. چې ددې ستړیا د
ایسته کیدو د پاره ښایی خپلې
ستګی له دې مګکنې محیط څخه
پورته وړی آسمان و وینې ـ ځکه
چې د هغه په لیدو د خاطر له صفحې
څخه خستګی او ناآرامی محوه
کیږی».

(روسکن) په یو ځای کښې ګلان ستایی او داسې وائي:

«د غه ښکلی او زیبا ګلونه
د خاګو د پاره د خوږښې مایه ده چې
هر څوک ئې له ښکلا څخه لذت مومی،
وړوکی د ګلانو په لیدو په هوس
راسی، سپېڅلی او پاک زړه خلک
د هغو په پاڼو کې د خپل ځان د خلاقو
او عاطفو نمونه وینی، د عیش او
نشاط خلک د خپل مجلس د ښکلا
د پاره آزاد ګلان په بند کې راوستلی
په یو تنګ او کوچنی لوښی کې ئې
اچوی.

کلیوالی ښکلی نجونی د
پسرلی په وخت کې خپل سر او صورت
په ګلانو باندې ښکلی، په دې ساده او
مختصرو ګیڼو سره خپله خدای (ج)
ورکړی ښکلا یې په دوه کوی.

شاعران هم ګل د الهام منبع بولی
او د ښکلا په ستاینه کې ئې زړه وړونکی
نغمې وائی او کله چې رنګ په رنګ
ګلونه یو ځای سره وتړل سو لکه
قوس و قزح (سره و زرغونه) په خپلو بېلو
بېلو رنګونو سره سقر ګوته نوازش ورکوی.

طبیعت انسان ته نعمتونه ورښخلی،
په هر موسم کې په مختصرو ګلانو سره
پرورښت مومی چې د کال په بېلو بېلو
فصلونو کې د ښکلا د مینو سقر ګې تل د ګل
د ښې په لیدو سره برانستل کیږی حتی
د ژمی په موسم کې چې ئې د واورې په
ګڼ کې پټیږی بیاهم طبیعت د ګلانو
له پرورښت څخه دریغ نه کوی. یعنی
په یو ګوښه و کنار کښې ځینې ګلان شنه
کیږی خو هیڅکله د ښکلا له مظاهرو او
لیدو څخه بې برخې نه شو».

دونو پاڼې هم یو خاص ظرافت او
ښکلا لري، د پسرلی په وخت کښې چې
د بڼ و نی، شنه جامه واغوندی. د طبیعت
ښکلا تر نورو فصلونو زیاته شوی، ته به وایی
چې د قدرت لاس ئې د ابدی ځیوضاتو
له خزانې څخه زمرد بارانه کړی ده د ښه
مرغه ځینې و نی د مخې له بادو او د ژمی
له یخ څخه خپله شنه جامه له ځانه نه لیری
کوي. او تل د غه ګران خلعت له ځانه
سره لری. د ژمی موسم چې د کاینناتو
بڼه واړه وی خو سمدستی د پسرلی
تر ژ تا زه هوا ئی ځای
ونیسی.

(نور بیا)

پښتو کوونکی (خالقی)

دنطاقی دهنر دزده کړی اساسات

څرنګه چی لیدل سوی ده دځینو خلکو ترمنځ دغه ذهنیت موجود دی چی دنطاقی آرت او په دی ځانګه کی داستعداد تربیه کول- یوازی او یوازی په علماؤ، دپوهنی او مطبوعاتو په غړو پوری خاصه اړه لری. او دغه کسان تر زیاتی اندازی پوری ددغی ځانګی سره هماهنګی او ارتباط پیدا کوی، خو نور کسان په دغه برخه کی کومه حصه نه لری.

دغه مفکوره چی دبی معلوماتی او علمی سویی دکښته والی څخه یی نشأت کړی دی، هیڅ ډول حقیقی جنبه او اړخ نه لری.

ځکه دنطاقی هنر پراخه ساحه لری په هر سړی او هره ځانګه کی چی بوخت وی ارتباط لری. البته دشک ځای نه دی هغه کسان چی په اجتماعی، سیاسی، حقوقی او نورو ځانګو کی مصروف دی تر نورو خلکو زیات دژبی فصاحت او بلاغت ته زیات احتیاج لری.

او دنطاقی دآرت څخه په اختصاصی توګه استفاده کوی.

او مکلف دی چی د دغه آرت په تقویه او تربیه کی خاصه توجه وکی. دغه موضوع ددی دلیل نه سی کیدای چی نور خلک یعنی هغه څوک چی دټولنی په نورو ځانګو کی وظیفه سرته رسوی ددغه آرټ دتقویه کیدو سره علاقه پیدا نه کی او په دغه ځانګه کی دځانه څخه لیاقت څرګندنه کی بلکه په قطعی ډول دا ایجابوی چی خاصه توجه ولری او دنطاقی دهنر په برخه کی په بشپړه اندازه خاصه توجه ولری. څو په هغه وختونو کی چی ایجابوی دټولنی په محضر کی په آرامو اعصابو سره خپلی خبری په قوی منطقو او متینو کلماتو سره بیان کی څو داوریدونکو توجه په ښه توګه ځانته راجلب کړی.

دنطاقی هنر په او سنی ټولنو کی دژوندانه څخه نه جلا کیدونکی جز ګڼل کیږی. او هغه ته زیات احتیاج سته. ځکه نو مجبور یو چی په هره ممکنه وسیله سره په دغه ځانګه کی معلومات لاس ته راوړو او په هغو ځایو کی چی ایجابوی یی تطبیق کړو.

ددی دپاره چی په دی برخه کی دهغه چاسره چی غواړی په دی باب معلومات لاس ته راوړی مرسته وکو ددغه مضمون دمطالعه کیدو په باب توصیه ورته کوو. ښایی ددغو اساساتو په نظر کی لرلو سره دنطاقی په هنر کی معلومات لاس ته راوړی.

زموږ ستر رهبر او داسلام د پاک دین ستر پیشوا حضرت محمد (ص) فرمایی:

«دژبی فصاحت دسړی جمال او ښایست دی» په دغه له معنی ډکی جملی کی یو جهان فلسفه نغښتی ده او په هره اندازه چی دهغه په باب عمیقه مطالعه وکو په هم هغه اندازه عالی مفاهیم لاس ته راځی. په حقیقت کی خبری کول دشخصیت څرګندوی دی او دسړی حقیقی ارزښت په ښه ډول څیړی څرګندیږی، دبلی خوا دکلام فصاحت او دنطاقی قوه دزده کړی او پوهی دډیرو مهمو عواملو د جملی څخه دی په دی معنی که یو سړی عالم وی په یوه برخه کی علمی توانایی او قدرت لری لیکن دافادی قوه او همدارنګه دخبرو

فصاحت په ده کی نه لیدل کیږی نو
ځکه دده ټول هغه معلومات او علمیت
چی لری یی د استفادی وړ نه دی.

او د نورو د علمی سویی په لوړولو
کی پوره برخه نه لری. ځکه
دغه دوه صفته یعنی علمیت او دژبی

فصاحت لازم او ملزوم دی همدغه
ځای دی چی هر سړی په دی باندی
مکلف کیږی چی د خپلو مسلکی

او خصوصی معلوماتو په څنګ
کی یو بل هنر چی موږ دلته هغه
د نطاقی او یا د خبرو کولو

د استعداد په نامه یاد کړی دی
په خپل ځان کی تقویه کی. ځکه
دغه صفت په یوه خاصه ځانګه او یا

یوې طبقی خلکو پوری اړه نه لری
بلکه بیله دی چی کومه اختصاصی
ځانګه په نظر کی ونیسو دغه صفت

په ټولو پوری اړه لری. نو په دی
اساس هر څوک چی په ټولنه کی
په یوه فعالیت بوخت وی د خبری

کولو هنر ته زیات احتیاج
لری.
د افکارو، احساساتو او علمی معلو-

ماتو د ښکاره کولو او څرګندولو
د پاره دوی لاری موجودی دی.
یوه د لیکلو قدرت او بله

هم د نطق او افادی قوه، د لیکلو
قدرت یوازی پر علم باندی ولاړ
دی هیجانات او عصبی ناآرامی

په دی برخه کی مداخله نه سی
کولای، یعنی لیکونکی په آرام
روح، د هغو کتابونو په څنګ کی
چی علمی مدارک یی بلل کیږی

قرار لری او خپل مطالب د کاغذ په مخ
باندی لیکی برعکس د نطق قوه سربیره
په علمی ذخیره باندی به ویلو، اعصابو په

کنترول د آواز د توان تر بیی، د نطاقی
په وخت کی د مخصوصو حرکاتو درک
ده د ریدو طرز او د هغه په شان نور تمرینو ته

احتیاج لری، دغه خصوصیات په خپل ذات
کی زیاتی مطالعی ته ضرورت لری چی
په دغه لنډه مقاله کی د هغو د یادولو ځای

نه سته خو فقط دومره کولای سو چی یو لړ
لنډ او مختصر معلومات د دغو موضوعاتو
په باره کی په تفصیل سره شرح کړو.

ښایی ټولو خصوصاً هغو کسانو ته
چی د استادی وظیفه ور په غاړه ده ګټور
ثابتیږی.

د مخه تر دی چی په دغه باب خبری
وکو د اکار دا ایجابوی چی دغه نکته
احتراماً ووایو چی د کاغذ په مخ څه لیکل

او یا د هغو ویل خاص ځایونه ځان ته لری
په هر ځای او هر وخت کی نه سی تطبیق
کیدای هغه مهم مطالب چی تاریخی،

علمی او سیاسی جنبه ولری او د هغو
برابرول زیاتو علمی تتبعاتو ته اړه لری
د کاغذ په مخ لیکل کیږی او په ټولنه کی

ویل کیږی، د دغه مطالبو په څنګ کی
نور موضوعات په روزمره ژوند کی تصادف
کوی چی سړی په دی مکلف کیږی چی خپل

مطالب په هغه متانت په لیکنه کی
څرګندوی په شفاهی ډول یی ښکاره
کوی. دغه ډول عادی موضوعات هیڅ وخت

د کاغذ په مخ نسوای راوړلای او د بلی
خوا دغه ورځنی موضوعات که د کاغذ په
مخ ولیکل شی او د ټولنی په مخ کی وویل
شی نو د دی د پاره چی زموږ شخصیت او

علمی معلومات د تعرض څخه
وساتل سی مجبوره کیږو د نطاقی
هنر په خپل ځان کی وروزو او

د هغه په مرسته خپل مطالب په ډیر
متانت او منطقی ډول څرګند
کړو. او د کلماتو په سحر سره

د اوریدونکو په روح کی تاثیر
وکو. د هغه د مامول د سر ته رسیدو
د پاره باید د الاندی نکات چی د

نطاقی د هنر په تقویه او پرورښت کی
ګټور دی په نظر کی ونسو.

۱- احضارات:

د هر څه د مخه هغه موضوع
چی غواړی د هغه په باب څه
ووایاست لازمه ده علمی قدرت

تر ورستی قدرت پوری را تحلیل
کړی یعنی تر هغه ځایه چی امکان
لری، موضوع باید د هری خوا

مطالعه کو او په دغه باندی پوره
حاکمیت پیدا کو. که موضوع
پراخه وی او د دی امکان

ونه لیدل سی چی ټول نکات یی
په حافظه کی په ترتیب سره قید
سی، په هغه صورت کی نو د موضوع

برجسته نکات د فرعی عنوانو
په شکل د کاغذ پر مخ یاداښت
واخلی.

دغه یاداښت تاسو ته دا
موقع درکوی چی هغه موضوع
کم چی غواړی د هغه په باب خبری

وکړی په مسلسل ډول بیله کومی
سکتګی څخه د یو پلان په چوکاټ
کی بیان کی او په دی ترڅ کی د
اوریدونکو علاقه او د دلچسپی

پلوخبرو ته ژباړه متوجه کړو. که هغه موضوع چې تاسو غواړئ خبرې پرې وکړئ دا ایجاب کې

ئې یو مثال راوړئ باید مثال اوریدونکو دسویې سره مطابق ئې. که په خبرو کې دجملو تسلسل

وجود نه وي او په موضوع کې راګنډه ګې منځ ته راسي او یو لنډې ګاهې دآخیره او کله

دسره هغه موضوع وخپړې او عملي به منظم ډول بیان نه کې په هغه وخت کې دې په دې نه سي بریالي

کیدای چې داوریدونکو علاقه راجلب کې نو ئې ټولې خبرې بې تره پاتې کیږي احضارات په

حقیقت کې یو چوکاټ دې چې نطاق مجبور ده کوي چې دهغه کاټ هغه ونه وزي او خپلې خبرې

په هغه محدود کړه سوي ساحه کې په منظم ډول سره بیان کې.

۲-داعصابو کنترول:

دنطاقي په هنر کې داعصابو کنترول ډیر مهم رول لري ددغه صفت لاس ته راوړل یو ساده او

آسانه کار نه دی بلکه دغه کار زیات تتبعات، مشق او تمرین ایجابوي. امکان لري دغې نکتې

ته ملتفت سوي یاست چې هر څوک نطاقي دشروع کیدو په وخت کې تریوې اندازې خپل اعصاب دلاسه

ورکوي او یو ډول وارخطایي حسوي دغه حالت یو طبیعي امر دی او هیڅوک که څه هم قوي اعصاب لري، دد غه امر څخه نه سي

مثلاً کیدای انګلیسان یو متل لري، چې وایي، هر یو ټکی دخبرو دشروع کیدو په وخت کې خپل اعصاب بایلي حتی

ګلدستون. (ګلدستون د۱۸۶۸ څخه تر ۱۸۹٤ کال پورې درې ځلې دانګلستان دصدراعظم په حیث انتخاب سوی دی)

دغه لوی شخصیت سر بیره پردې چې یو قوي او غښتلي سیاست مدار ؤ په ادبیاتو خصوصاً دنطاقي په هنر کې ساړې نه درلود. او

دجهاني شهرت درلوونکی ؤ. خو سره ددې دنطق دشروع کیدو په وخت کې یې په خپلو اعصابو کې یو ډول ناآرامي

احساسول. پس ددې څخه دا معلومیږي چې نطاق حتماً دخپلو خبرو دشروع کیدو په وخت کې تر یو ډول هیجان او یا اعصابو

دخرابې چې احتمال لري دمجلس دآرامي او یادا ورېدونکو دشمېر څخه وي، لاندې راځي دغه نقص امکان لري دلاندنیو

تکانو په نظر کې نیولو سره په پوره ډول لیرې سي. او یادا چې ښایي تر یوې اندازې پورې په هغه کې تخفیف منځ ته راسي.

ددې دپاره چې په اعصابو کې کنترول تامین سي داکار دا ایجابوي هغه موضوع کم چې غواړئ بیان یې کړئ

په آرامي او کرارې سره یې شروع کړئ دغه کار دې ښې خوا څخه او ورېدونکو ته دامر قرار ورکوي چې

د خبرې ویونکی (نطاق) سره الفت او محبت او بیژند ګلوي پیدا کې. په دې ترڅ کې یې او ورېدو ته

تحریک سي. او دبلې خوا څخه کرار کرار ستاسو څخه داعصابو ناآرامي لیرې کې دغه کار دویلو یو ډول جرأت پیدا کوي. سر بیره

پردې په دې هم پوهیدای شي چې خپل اواز په کومه اندازه لوړ کړئ څرد هغه څخه استفاده وکې.

سم دریدل او خندانه څېره درلودل تاسو ته ژباړن نوت درکوي چې په خپل اواز او اعصابو باندې

حاکمیت پیدا کې. دخبرو په وخت کې دخبرو د ورژر کیدو او یو په بل پسې دجملو او کلماتو دویلو څخه

ځان وساتې. دجملو په منځ کې لږ مکث کول او کلمات په وضاحت سره ادا کول داوریدونکو منځ او

ستر ګو ته پسله یوه اندازه وخت څخه کتل داسې عوامل دي چې ستاسو سره دنطاقي په وخت کې

مرسته کوي او دغه کار داعصابو تسکین منځ ته راوړي.

۳- یو بل عامل چې دنطاقي

په هنر کې ژباړن مؤثر دي دکلماتو سادګي او دآواز توان دي کلمات چې په هره اندازه ساده او جملې

دلغوي تکلفاتو څخه خلاص وي ژباړن مؤثر تمامیږي او اوریدونکي ځانته ښه راجلبوي

برعکس ثقیل او نامانوس کلمات داوریدونکو یو ډول عدم دلچسپي منځ ته راوړي. دجملو او کلماتو

په تلفظ کې دې ساختګي ته ځای نه ورکول کیږي او آواز دې دنطاقي په وخت کې په طبیعي ډول

وساتل سي. البته دآواز کښته او پورته کول په مناسبو احوالو او په کلماتو او جملو باندې دآواز

«پاتې په ۲٤ مخ کې»

ژباړونکی (رحیمی)

EXISTENTIALISM

یا

دوجودیه و مذهب

انسانی کرامت او خود ارادیت ته عقیده درلول

داگزیستانشلزم داساسی اصولو څخه بلل کیږی

(دوهمه برخه)

په عمومی ډول د وجودیه و دمذهب پیروان د انسان لپاره د ازادی او د نفسی د تفوق د اصل څخه د دفاع کوی (جاسپرز او مارسل) هرهغه عمل چی شخصیت او انفرادیت پکښی نه وی بدبولی او حتی د انسان د اجتماعی فعالیتونو پرضد دلومړنی اقدام په ډول دهغه د حقیقی ازادیت دکموالی په لاره کی اعتراض کوی.

جیمز کولنیز James Collins وائی (دنن ورځی یو فرد فقط لکه دځو واحدونو څخه یو متبادل واحددی چی تر تکنیکی عمل لاندی راځی او یا د مقداری معیارونو د تعدیل لپاره دقوی په شان دی.)

دوی عقیده لری چی دچارو په طرحه کیدو کی هرفرد دیو خاص اهمیت درلوونکی دی او هرڅوك پخپله په خپل استخلاص پوری تعلق لری. هیڅوك نسی کولای دبل چا باریه اوږو باندی واخلی اگزستانشلستان انسان د هرفرد لپاره په خو دارادیت باندی ټینگار کوی او انسانیت د ازادی سره مترادف بولی دوی وائی (خودی) اساسی صفت حریت دی او دجاس برز په عقیده دغه حریت په اتفاقی ترادفاتو کی پټ دی او انسان د ترادفی اتفاقاتو یوه مجموعه نه ده: (دی کولای سی خپل ځان دهرډول اجتماعی نقش څخه جلا کی که څه هم دد، لپاره ددغه نقش ردیدل دکلتوری حالت دعت په نسبت امکان ونه لری.) دی وائی کولای سو دغه حریت په نظر کی ونه نیسو ولی خو ترهغه وخته چی انسان وی نسی کولای هغه په پوره ډول محوه او نابود کی. ازادی اساساً د انتخاب لیاقت دی او نه یوازی د انتخاب دیوه عمل متضمن دی بلکه یوه (دوام دار مبارزه) وی.

د انسان ازادی چی د وجودیه و مذهب پیروان دهغه څخه بیان کوی د وروستی علتونو د حکمت درلوونکی او دمحرکی قوی درلوونکی وی.

دغه دعمل لپاره یو رابلل دی، یو احتیاج دی چی باید پوره سی او یا یو امکان دی چی باید تأمین سی یوه انگیزه دهچی دراتلوونکی وخت څخه خپل قدرت لاس ته راوړی. انگیزی لاس ته راځی مگر داچی خارجی وجود هغو ته ورکړه سی (زه د خارجی وجود وسیله یم ترهغه د انظریه چی انگیزه او انسانی هدفونه کولای سو طبیعت، اجتماع او یا ماورا طبیعت ته یه مراجعه کیدو سره په بشپړه ډول معلوم کو داسی ده چی گویا موږ انسان یوشی تصور کو. داوه دسار ترنظریه چی دهغه یه سبب نه باید د انسان وجود دخارجی عناصرو او یا تقدیر او قسمت دلاری وټاکو.

دفرد په آزادی پوری مربوط یوه بله د لچسپه نکته چی د وجودیه و مذهب دپیروانو په واسطه تبارز کړی دی

اده څرنګه چې آزادي د شخصي
سئولیت مستلزم ده نو بنا پردي
وخطر او یو مسؤلیت دی یو

انفرادي تصمیم ښایي دیوه فرد
ول سرنوشت وټاکي او یا هغه
ودبله سره ووهي لیکن د بشر

ټولو افرادو د سرنوشت سره
راو کار نه لري.

«د انفرادیت ښه وجه داده چې

انسان د خپل موجودیت سره شخصاً
علق نیسي او کولای سي چې د خپل
جود په څرنګوای سره فقط د خپل

ان د شرایطو او امکاناتو
مطالعي دلاري څخه پوه سي.
د هغه ځایه څخه چې انسان

کولای سي د دغو امکاناتو په
ستشعار سره تصمیمونه ونسي دي
د خپل وجود حقیقت لاس ته راوړي

و یا دا چې هغه د لاسه ور کوي.»
نا پردي هغه فرد چې د موجودیت
وشعوریت په مقابل کې مسؤل

ه دي او د طبیعت، ټولنې، او نورو
فرادو مرګ په اختیار کې وي
ه هر صورت باید د ژوندانه د مفهوم

سؤلیت په هر تعبیر سره چې وي
خپله یې په ځان قبول کې. فرد باید
خارجي منابعو د مرستې څخه پرته

قول بشریت بار په خپلو اوږو باندي
ول کړي. و قعي خودې ته رسیدل
ا هغه شي چې دو جودیه مذهب

پیروان یې اصلیت بولي یوازې او
وازې د تصمیمونو د نیولو او خطر
یلید لو دلاري میسر کیږي. د انسان

د پاره دلار ښوونې پر نسیپ چې
د انتخاب په دوراهي کې واقع وي
هم هغه د موجودیت څرګندول دي

چې د خطر قبلیدو ته حاضر وي...
همیشه ژوند چې هغه د قهرماني ژوند
هم بلل کیږي هغه انعام دي چې

فقط د ټولو شیانو په قربانیدو کې
میسره کیږي.)
په ټولو تصمیمونو کې چې

انسان یې په دي دنیا کې نیسي
همدغه خطر او مسؤلیت مضمر دي
او هغه تصمیمونه چې د بصیرت او

کنترول څخه د باندي وي درد او
خفګان منځ ته راوړي.
د همدي دلیل په بنا انسان

په یوه تراژیک موقعیت کې قرار
نیسي او په ډیر درد، خفګان کې
واقع دي. د همدي دلیل په بنا سره

دوي چې دي دومره خوار معلومیږي
د هغو سره د روند مسؤلیت پر غاړه
لري.

د دري ژبې شاعر (حافظ)
ویلي دي:

آسمان بار امانت نه توانست
کشید
قرعه فال بنام من دیوانه
زدند

په خلص ډول د اګزیستانشلزم
د فلسفي او نورو ډولو په نظر تفکر
نباید د یوه محضي دماغ محصول وي

بلکه باید د یوه فرد د درونی
تعلقاتو بیانونکي وي د یوه سړي
فلسفه باید د ده د ما في الضمیر یعني

هغه شي چې د ده ټوله زندګي د هغه په ګرو
کې واقع ده وي یعني فیلسوف باید
پخپله هم په هغه فلسفه کې چې څرګندوي

یې په خپله ذیدخل وي.
د وجودیه د مذهب پیروان د
معلوماتو یعني د ریاضي پرابلمونو د

جوابونو سره چې معمولاً د کتابونو په
وقایه کې لیدل کیږي لږ علاقه نه لري
په عوض کې دوي علاقه لري چې ویونکي

معنوي جدایي ته تحریک کې. بنا پردي
د دغې فلسفي نتیجه هم هغه تاثیر دي چې
پر سړي باندي یې ایږدي. دوي احساس

کوي چې مهم شي عبارت د هغه تغیر څخه
دي چې د انسان. په انګیزو او د ده په
احساساتو او توقعاتو کې پیدا کیږي،

نه هغه زیاتوب چې د ده په لاس ته راغلي
او پوهنې کې واقع کیږي. دغه ډول
طرز العمل یو ښکاره احتجاج دي د

عنعني تفلسف په مقابل کې په دي اصرار
چې د یوه متفکر شخص تعهدات د هغه
تعریف سره چې دي یې د حقیقت په باب

څرګندوي ارتباط ورکړه سي عادتاً
د فلسفي شاګرد داسي فکر کوي چې د ده
وظیفه د یوازې نظریاتو په لاس راوړل

دي څو هغه عقلاً داسي تحلیل کې چې
د تناقض څخه ګوښه پاتي سي. دي
دا توقع لري چې په همدي ترتیب به په پای

کې د انسان، طبیعت او ماوراء الطبیعه
تشریح بریالي سي. لیکن د وجودیه د مذهب
پیروان احتجاج کوي چې د ژوندانه مهم

سوالو ته د سیانتفیک معلوماتو او محضي
تفکر څخه په استفاده سره جواب ورکو.

«پاته په ۲۵ مخ»

که گریوان دلبره چاك ښکاره ټټر کړی
دصوفی به کور خراب خاورې پرسر کړی

دزړه سر به یې تنا کی سی له شوقه
انحنا ستا د سینی ته که نظر کړی

(ط)

نه دی!

ماوې وګوره چی زړه می قلم نه دی
دې وې صبر کړه لایق دملهم نه دی
ماوې کله به یه ما مهر نظر کړې

دې وې قطع دی لاخیال دکرم نه دی
ماوې اورمی ستا دعشق پرزړه بلیږی

دې وې رنګ دی دبوراسره سم نه دی
ماوې بیامې ستا دلوری قسم وخوړ
دې وې هیڅ باورمی ستا په قسم نه دی

ماوې نوم می (احمدین) طالب سیاح دی
دې وې کړی دی لاسیل دحرم نه دې

پسرلنی

طبیعت کړی ګوتی پوری په سینګار خپل
پرسینه سینګاروی دغاړی هار خپل
راروان به کړی کاروان په مشکو بار خپل
دی را استوی نسیم لکه رویبار خپل

په ویدو ویدو ډغ د مسیحا کړی
دمسیح په څیر به مړه کاندی راپورته
چی په غټو سترګو وګوری هر لورته
بیا به ورسی بلبلان وسمسور بڼ ته
غوږ به کښیښږدی دبلبلو شرو شورته
چی دسوی زړه نغمی په هرسبا کړی

دبهار جو په به راوړی داسی ساوې
چی ژوندی کړی په هر ګوټی غوټی مړاوی
په سروشونډو به مسکی سی لکه ناوی
ورسره به وی دخوږو زړو دواوی
چی را تګ به ئی هرشی ته رب دوا کړی

بیا به وموښی سنبل په څڼو عطر
بوراګان به پری بڼږی چتر چتر
ګل به مات کړی نامحرم بلبل ته ستر
د زاغانو به له باغه سی زړه صبر
بلبلان به په خوښی دګل ثنا کړی

دسندسو شال به وګوری هوار ته
که یو ځل په سترګو وګوری بهار ته
دزاړه موسم لښکر به خوارؤ زار ته
په دی خپلو سترګو وو ینی فرار ته
چی په تیښته او په منډه در ته شا کړی

«جرار»

څلوریځه

د غم روژ و کړم خاطر ملاله
رب دی ښکاره کړه دعید هلاله
چی ثنا خوان شم د شکر لبو
اوس ترطوطی یم شیرین مقاله

«پیر محمد»

د طبیعت افسون

طبیعت بیا افسون وکړ چې یې خاوره کړه ګلونه
د جنت شمال راولوت لرې نو ې پیغامونه
د آسمان آبې دریاب کو دوریځې بیړې راغله
ته وارایې وړه دسینده د ګهرو امیلونه

بنه راغلې دپسرلې ته نسترن کا کل سینګار کړ
مجنون بید پرملا کړه سوه زلفې زانګې ولونه ولونه
په راهیل چمبیل کې جوړې ګهوارې سوې دبلبلو
دسحر نسیم ته ګوره زانګوې یې هیالونه

دبورا په ویاړ ګلانو صف وهلې دي په باغ کې
داورځې په ډیره مینه مچوې ددوې مخونه
مروارید په خیر شبنم قطرې لونلې دي په ګلو
که دسپینو مرغلرو یې په غاړه کړه هارونه

پرغه ولو بده چمن کې رنګارنګه محل، بل کا
سپرې جاجې چې دې شوې دالماسو بارانونه
شوخ نسیم چې شکوفې ګریوان ته لاس کړې
پاڼې پاڼې اوروې پر مینانو ګل بلګونه

لکه ستورې چې اسمان کې جلوه کاندې
هسې زیب کاشنه چمن کې دګلانو سپین لاړونه
دابهار دې که عطار دې نه یو هیڅ م
«چې درنګ او بوې او ښتې شاوخوا دې کاروانونه»

کوه و دښت کې مسیحا لکه چې بوه کړه
دوه مې غځه یې ښکارې چې دره کې کاژغونه
لاجوردې اتلس یې بیا په غرونو واغوست
شنوغالیو باندې فرش سره سپین ډاګونه

درید ې لرنګې له سره غه باد یووړه
دغاړول زړه کې له و یره سو دا غونه
دشپاڼه شپیلې کې بیا سوز را پیدا سو
په نغا یې کړه سپرلې و هې ټو پونه

هره خوا توري کړدې دښت کې خورې دې
ته وارا غله د سکندر لښکر، فو جونه
طبیعت کې جنبش را غ و ا یې پا غه
موږ هغسې لا بیده یو کړ و خو بر نه

(ك، ط)

دزلفو تار

تار په تار چې به سپین مخ زلفې سنبل کا
په هر تار سره دزړونو بندول کا
ددعا به فانوس بادله یاره نیسم
چې ته به چې ئې شاغ دحسن ګل کا
سوز دعشق به ملاقات دآشنا ذیات سې
بورا هکه دبهار پر ګلو شغل کا
ناز دښکلو چې زهیر کړم په وصال کې
پر فراق به ئې څوك هه رنګ تحمل کا
زه قربان سم ترغمزو دشیوه ګرو
چې یې تیغه د عاشقو قتلول کا
چې ترحسن تر جمال ئې عمر کم دې
زړه به ښاد په هسې ګل هه رنګ بلبل کا
ښه هوسم دشباب تر پر «پیر محمد» شو
بوالهوس هنوز هوا د ګل ومل کا

مرتب: **هنر او ادب** (نصرت)

دشنلمو مې

خو بیخود دسرو شنلمو په مې نه شم
په نظر ه دسرو ستر ګو سپرې نه شم
دآشنا د مینې هسې میخا نه د ه
چې دیدن لره ئې ورسم تري تلې نه شم
چیرې نه چې له نظره شي دلبره
له دهشته ی ومخ ته کتې نه شم
به در باد معشوقو کې نه قبلیږم
خو دخپلو اشنایانو پردې نه شم
په کوهې دزنخدان کې چې څوك پریوزې
وائې داچې ختې نه شم ختې نه شم
ته مې هله دروغجن په مینه بو له
که سپند غوندې ترتانه اوګې نه شم
که دې ایت دیاري وې ترم به راسې
زه (حسین) به هکندن یم در تلې نه شم

(حسین)

زموږ (ارټ) هم تقویه غواړی

د کندهار مجلې په لومړۍ ګڼه کې یعنې د ۱۳۳۹ کال دوری د میاشتې په ګڼه کې دالاندې مقاله خپره سویده چې موږ یې د مجلې د کالیزې د یادونې په برخه کې راوړو. دامقاله چې دمعروف لیکوال ښاغلی نومیالی په قلم ده موضوع یې تر اوسه هم د توجه وړ ده.

د «ارټ» معنی ډیره پراخه ده او پر زیاتو شیانو دلالت کوی خو هغه دستی په دستی حاضره معنی ئی داده چې له (ارټه) څخه مقصد غزلی، اتڼونه، ایشلی او نوری خبری دی چې انسانانو دژوند تفریحی ضرورت په دوی تامین کړی دی.

(ارټ) داولسونو په ژوند کې ډیره مهمه برخه لري خو موږ دژوند څخه د تیر تاریخ په جریان کې خپل زیات حیاتی مهمات له لاسه ورکړی دی نو په دې سلسله کې مو (ارټ) هم له خپله ذاتی رشده څخه پاته سوی دی هغه اجتماعی حوادث چې لاس پر لاس ئې زموږ حیاتی مو جوړیت له مځکې وشتلی دی او هغه معاشرتی عوامل چې دژوند د فعالیت دوران ئې خورا محدود کړې دی نو کله کله چې زما تر مطالعې لاندې کیږی په هغه جمله کې داواقعه په صراحت سره وینم چې زموږ د «ارټ» له انکشافه سره هم لوئې لوئې دښمنی سوی دی او دژوند دغه «ارټی» فعالیت موتر ډیرو فشارو لاندې څخیرل سوی دی.

تاسې باور وکړی چې دنورو اولسونو خوشحاله او دنشاط ډک ژوندونو ته که له یوی خوا داقتصادی تنظیمو پر اساس تامین سوې دی خو له بلې خوا د «ارټ» په وسیله هر کله ددوی حیاتی ذوقونه موجونه وهی او (ارټ) ئې سبب دی چې دژوند فارغه ساعات ئې دوجدله لطیفو احساساتو سره یوځای تیریږی. لیکن زموږ ژوند چې سر بیره پر نورو ورانیو روحی خوا یوټکی هم لری او نا حقه خوا بدی مو هم دژوند په جریان کې اکثره روڼ اخلی خو وجه ئې داده چې زموږ «ارټ» یا په بل عبارت دژوندون یوه ډیره مهمه برخه نلرو او که چیری هم وی هغه په داسی شکل نه ده چې زموږ په ژوند کې د خوشحالیو د پیدا کولو باعث وګرځی.

اوس چې زموږ داجتماعی ژوند په وجود کې یو ارتقائی حرکت پیدا شویدی نو له دی ژوند سره مناسبه ایسی چې داولس حیاتی ذوقونه راویښ کړه سی او ودی خبری ته لازم موقعیت برابر سی چې د (ارټ) دانکشاف په وسیله مو په ژوند کې دژوند تفریحی ذوقونه تامین سی.

تر کومی اندازی پوری چې په دی باب کې تصور کیږی نو البته د «ارټ» انکشاف زموږ دمدنی کیدونکی ژوند په ساحه کې

دیو لازم کار حیثیت لری او ارو مر و اجرا کیده را څخه غواړی. خوددی کار اجرا او

تقویه په اوسنی مرحله کی دوه اړخه لری او هغه دادی چی له یوی خوا به دولت پوره زمینه

ورته مساعدوی او له بلی خوا به اولس بی له طبقاتی قیدو بسته څخه خپل استعداد پر اساس باندی په دی

کار کی ګډون کری. پدی ډول کډه سعی به نو خورا ژرو کړای سو چی زموږ په اولسی ژوند کی له

کیفه ډکه بیداری په ډیره چټکی سره را وپاڅی او تعمیم هم پیدا کړی.

زموږ داولسی «ارټ» په سولو او پاللو کی ښائی دهری منطقی او ځای خلک مو لږ څه په

بیلو شرائطو حصه پکښی واخلی خو په کندهار کی که ددې مهم تاسیس خیال وساتل سی نو په دی

وروستنی ترتیب به کار ژر وسرته ورسیږی چی هغه داسی دی:

اوس په کندهار کی ډیر داسی

کسان سته چی شوقیانه غزلی وخت ناوخته وائی خو نه ددوی ارمان په غزلو ختلی دی او نه کندهاری

ځوانان ددوی له غزلو څخه څنګه چی ښائی هغسی مستفید سوی دی.

هم دغه رنګه هغه اصلاحات هیڅ نه دی سوی چی دموسیقی په آلاتو کی لازم لیده کیږی او نه دهغو غزلو په جوړولو او ویلو

کی لاس وهل سوی دی چی زموږ د (ارټ) په انکشاف کی ترتیبول تر هر څه دمخه ډیر ضروری دی.

له دی قبیله ګرده خبری چی نه دی سوی یوه مهمه وجه ئی داده چی زموږ شوقیان دټولنی ځای نلری او نه

ددوی دراټولیدو دپاره دچاپر لاس ترتیب نیول سوی دی. که صرف ددوی دپاره یو ځای تهیه سی او

دانتظام دپاره ئی لږ څه غم وخوړل سی نو دا اطمینان پوره موجود دی چی ښاغلی کندهاری شوقیان

به په شوقیانه ډول سره خپل «ارټ» په لږ وخت کی وداسی اندازی ته ورسوی چی یا به ئی ساری بیخی نه

پیدا کیږی او هم به ننداره کوونکی له هری خوا څخه دونه پر رامات سی چی په شمیر به نه کښیوزی. کم وخت

چی زموږ دشوقیانو دپاره له دی قبیله ساده ترتیبات ونیول سی نو بیخی په ارزانه ټکټانو ننداره

کوونکو ته موقع ورکول کیږی چی دشوقیانو دکنسرتو څخه مستفید سی او هغه عائدات چی په دی وسیله

پیدا کیږی هغه هم دمصارفو او یا شوقیانو ته دجائزو دپاره په کار اچول کیږی نو په دی ترتیب سره

به زموږ (ارټ) ډیر تقویه سی او ترینګلی ژوند ګنډلی مخ به مو په غوړیدلی بشاشت بدل سی.

دداسی تاسیساتو نتائج به زموږ پر اجتماعی اخلاقو باندی هم ډیر اثر واچوای څکه اوس چی څوک سپیان او خندکیان روزی خو هغه

وخت به دیو هنری استعداد دروزلو تلو سه ورولاړیږی او داهم په عین حال کی زیاته معقوله ده چی له یوی خوا دچرس

دوهی پر تړل کیږی او دسپو جنګ پر بندیږی نو له بلی خوائی بیا هنری موسسات پر مخ ورخلاصیږی.

دغه ډول مشاغل به نو زموږ ژوند له ډیرو چټی بیانو څخه خلاص کړی او دیوه سړی ښه غزل به دسلو

خوشحالی تامینوی او دسلو تحسین به دیوه هنری استعداد ورو روزی پدی باب کی خو ډیری د ګټی

خبری موجود یدی خو د دی دپاره چی په لږ بیان اکتفا وکړم نو پر دغه ځای باندی نوری خبری بس کوم

او یوازی داقدر وایم:

کله چی شوقیان را ټول سی او د کنسرتو ځای ورته سرښته سی نو

ارمان به نه کوم چی په خپله دکندهاری ځوانانو په جمله کی ماته هم روڼ راووزی چی یو څو پښتو لنډی ووایم.

هنری اصطلاح:

پورټریټ! دا یو فرانسوی کلمه

ده چه په هنری ادب، یعنی لیکوالی کښی دانسان دخارجی جوړښت جمود څیری اوژستونو دځرنګوالی بیان او تفسیر

ته وایه شی.

کله کله دقهرمانانو دروحی خصوصیاتو بیان ته هم وایه شی په دی فرق چی هغه) داخلی پورټریت) بولی دکوم په چوکات کښی چی دپرسوناژ دکرکټر او شخصیت کلیت او دده روحی او معنوی جهان تصور شوی وی.

عوانان

تهیه کوونکی : رحمت الله «مروند»

دځوانانو وظیفه دټولنې په وړاندې

زموږ دژوندانه هره خوا او هر څه په تېرژاړه نظام کې تیاره وه او نور هم دتورتم لور ته روان وه خو اوس دژباتي خوځښت او خوشحالي هاي دي چې دنوی نظام په رڼا کې هغه تیاره، توره له منځه تللې او هغه ظلمونه او بېروکراسي چې دژاړه او منسوخ نظام بقایا دا باندې ده مخ په ورکېدو دي او دربدرو خلکو پر زخمو باندې درمل ږدي.

په دې پوره باور لرو چې زموږ خلک او عوانان وکړای شول خپله کښتۍ کوم چې په تېر نظام کې د ظلمونو په قهرجن دریاب کې مخ په ډوبېدو وه د دغه حالت څخه وژغوري.

اوس چې داډول ده نو پرموږ ده چې دوطن دوستۍ داحساس په لرلو سربېره، دبشردوستۍ په مقصد یو ځل خپلو هاڼو ته ملتفت او دخپل هیواد او ولس دژوندانه هره خوا او هر څه په تېرژاړه نظام کې تیاره وه او نور هم دتورتم لور ته روان وه خو اوس دژباتي خوځښت او خوشحالي هاي دي چې دنوی نظام په رڼا کې هغه تیاره توره له منځه تللې او هغه ظلمونه او بېروکراسي چې دژاړه او منسوخ نظام بقایا دا باندې ده مخ په ورکېدو دي او دربدرو خلکو پر زخمو باندې درمل ږدي.

په دې پوره باور لرو چې زموږ خلک او عوانان وکړای شول خپله کښتۍ کوم چې په تېر نظام کې د ظلمونو په قهرجن دریاب کې مخ په ډوبېدو وه د دغه حالت څخه وژغوري.

اوس چې داډول ده نو پرموږ ده چې دوطن دوستۍ داحساس په لرلو سربېره، دبشردوستۍ په مقصد یو ځل خپلو هاڼو ته ملتفت او دخپل هیواد او ولس دژوندانه هره خوا او هر څه په تېرژاړه نظام کې تیاره وه او نور هم دتورتم لور ته روان وه خو اوس دژباتي خوځښت او خوشحالي هاي دي چې دنوی نظام په رڼا کې هغه تیاره توره له منځه تللې او هغه ظلمونه او بېروکراسي چې دژاړه او منسوخ نظام بقایا دا باندې ده مخ په ورکېدو دي او دربدرو خلکو پر زخمو باندې درمل ږدي.

په دې پوره باور لرو چې زموږ خلک او عوانان وکړای شول خپله کښتۍ کوم چې په تېر نظام کې د ظلمونو په قهرجن دریاب کې مخ په ډوبېدو وه د دغه حالت څخه وژغوري.

اوس چې داډول ده نو پرموږ ده چې دوطن دوستۍ داحساس په لرلو سربېره، دبشردوستۍ په مقصد یو ځل خپلو هاڼو ته ملتفت او دخپل هیواد او ولس دژوندانه هره خوا او هر څه په تېرژاړه نظام کې تیاره وه او نور هم دتورتم لور ته روان وه خو اوس دژباتي خوځښت او خوشحالي هاي دي چې دنوی نظام په رڼا کې هغه تیاره توره له منځه تللې او هغه ظلمونه او بېروکراسي چې دژاړه او منسوخ نظام بقایا دا باندې ده مخ په ورکېدو دي او دربدرو خلکو پر زخمو باندې درمل ږدي.

دځوانانو پلوشې

زموږ ځوانان خلکو په ډېرو حساسو وختونو او داسې تاریخي ګېرېوکې چې هیواد او ولس فدا کاریو ته ضرورت احساس کړی دی لاسونه سره ورکړي او په قرلنیزه او ګډه توګه بې په ملي جهاد پیل کړي او هاڼو نه بې بریالي ګرزولي دي نو ان هم چې دهیواد د لوړ نیاز او خلکو دهوسایني په لار کې دکوشش دپاره یو دغسې حالت منځ ته راغلی او زموږ هیواد د تاریخ ددې حساس مرحلې څخه تېرېږي باید ټول د خپلو وطن پالو نکو پلرونو او به غیرخپلې ځانګړې ګټې، شخصي غرضونه ځانګاني، تفرقه او بیلتون پرېږدو دجمهوریت تر لوا لاندې راټول شو او هر څه دهیواد او خلکو تر ښېګڼو قربان کړو.

خپلو راتلونکو نسلونو ته سرته رسولی او د راتلونکو نسلونو په وړاندې به کوم مسولیت نلرو.

لیکونکی: علی محمد «رسولی»

ځوانان او سینما

ډیر وګرانو ځوانانو!

سینما که د یوې خوا د تفریح وسیله ده او یا د اجتماعي او کورنۍ ښ ایلمود حل او رهنمایي په برخه کې ښه لارښوونکی ده خو د بلې خوا د بدو اوناوړو فلمونو په ښودلو سره د ننداره کوونکو پر ذهنیتونو باندې بد تاثیرات هم ښندي.

علمي، انتباهي، اجتماعي، سیاسي، تاریخي او عشقي فلمونه هر یو په پل موردکې کله کله ډیر موثر وقح کیږي خو بولیسي او جنایي فلمونو نن ورځ دا ډیر علم مخاطبو کې خاصه توجه ځانته جلب کړیده. ځکه بولیسي او جنایي فلمونه دي چې نن ورځ یې په ځوانانو او کوچنیانو کې واقعاً تاثیرات ایدل کیږي.

هوامنفي تاثیرات!

د بولیسي او جنایي فلمونو ننداره ځوانان او کوچنیان د اخلاقي فسادونو په لور ورکشوي او د اخلاقي کمزوري و خواته د ځوانانو د سوقولو په برخه کې د یوه قوي مقناطیس رول لوبوي.

نه یوازې بولیسي فلمونه بلکه هر ډول فلمونه چې وې پر افکارو باندې تاثیر لري. د یوه ښه تربیوي، اجتماعي، تاریخي یا انتباهي فلم څخه به ځوانان د کوچنیانو د تربیې یا په ټولنه کې د خلکو سره د تماس او یا هم د اجتماعي ژوندانه په برخه کې ډیرې ښې تجربې حاصلې کړي.

خو د ناوړه بولیسي عشقي او جنایي فلمونه لیدلو سره په ځوانانو او خصوصاً وړوکو کې د ظلم او بې رحمي روحیه راژوندي کیږي او دې غوصحته سازیو دلیدلو په نتیجه کې هغې د ژوندانه پر براخ مسیر باندې خپله واقعي لاره وده کوي.

ماخو ځوځله په خپلو سترګو لیدلي دي چې ځینې هلکان په کوڅو او یا هم په خپلو کورونو کې د فلمو ځینو صحنې تمثیلوي او وایي چې په فلاني فلم کې هلک چې غلا کوي داسې ګرفتاره کیږي.... او بیا هغه داسې ځان خلاصوي.. داسې بولیس وژني د سې نجلۍ تښتوي.... داسې او داسې.....

کله چې د کوچنیان او لیږې د یوې خوا همدا فلمونه تعقیبوي او د بلې خوا کورنۍ صحیح تربیه په پښې نه وي نو ورو ورو دوی هم تشویقیږي خو کوم چالونه چې بې د سینماله پردې څخه زده کړي بدې تطبیق کوي او ددې کارلپاره حتماً په جنایتونو لاس پورې کوي او په دې ډول په وسته پاته هیوادوکې زموږ د ټولنې غوندې ایله ګرد او لرچګان ځینې جوړیږي او په متمدنو او سرمایه دارې ټولنو کې هم بدمعاشان او هیپیان کیږي. ان د رخ دنیې ټولنه پیژندونکو د پوهنې او روزنې متخصصینو د اثباته کړیده چې جنایي او بولیسي فلمونه ځوانان اجتماعي بې احتیاطیو، فسادونو او اخلاقي انحرافاتو ته لمسوي، ځکه نو باید دې ډول فلمو مخنیوی وسي او هم ځوانان دې ټکې ته متوجه کړل سي چې د دې ډول فلمو د لیدلو څخه هم پخپله ډډه وکړي او هم خپل کوچنیان ځینې راوګرځوي.

څومره پخوا «نیویارک ټایمز» لیکلې وه چې په «ایکل وود» کې یوې اته ویشت کلنې ښځې چې د خپل زوی د بې پروایي له کبله یې محکمې ته شکایت هم کړی ؤ

«پاته په ۳۰ مخ کې»

تهیه کوونکی : میرمن ملاله

میندی باید خپلو کوچنیو لوڼو ته د کار موقع ورکړی

اکثراً په ځینو کورنیو کی لیدل کیږی چی میندی وخپلو کوچنیو لوڼو ته موقع نه ورکوی چی په کورنی چارو کی برخه واخلی او ددوی سره مرسته وکړی.

دا ډول میندی دا عقیده لری چی د نجونو د لاسه کوم کار سرته نه رسیږی. خو داسی نه ده باید هغوی د لوښو په پریوللو، چارو کولو د هندارو په پاکولو، په اخښلو او همدغه رنګه پخلی کی برخه واخلی ممکنه ده چی یوه وړوکی نجلی په لومړنه سر کی ددی کار د اجرا د کولو د عهدی څخه ونه وزی. او لوی اشتباهات ځینی پیښ سی حتماً احتمال لری چی په لومړی قدم کی ددی ټولو کارو د سرته رسولو څخه عاجزه وی. مګر دا د میندو وظیفه ده چی په کرار کرار د کور د چارو په سرته رسولو کی موقع ورکړی مشکلات او سختی ددوی په مخ هواری کړی که کومه اشتباه ځی پښیږی میندی باید ودی اشتباهاتو ته د اغماض په سترګه وګوری.

او هر څو نه زیات هڅه وکړی چی خپل ماشومان تشویق کړی او هغوی د کار څخه د لسرده نه کړی فرضاً یوه وړوکی نجلی چی د ۱۱ یا ۱۲ کلنو په حدودو کی عمر ولری یو لوی اطاق به څرنګه چی شاید وباید وی جارو نه کړای شی. او یا لوښی به څرنګه چی د مور خواهیش ئی وی یری نه مینځی په دی وخت کی باید مور عصبانی نه شی او هغه تر ملامتیا لاندی ونه نیسی بلکه باید هڅه وکړی. تر څو چی په سړه سینه او پراخ تندی هغه وخپلی اشتباه ته متوجه کړی تر څو چی وړوکی نجلی وخپل ضعیفه نکتو ته متوجه سی څو ددوهم ځلی لپاره هغه تکرار نکړی. که برعکس مور زښه قیافه غوره کړی. او یا هغه ووهی ددی احتمال ځی چی نجلی دی روحاً متأثره سی. او نور دی قطعاً د کور په چارو کی لاس ونه وهی.

دا کار ددی سبب کیږی چی په آینده کی دی نجلی د کور د کارونو د سرته رسولو څخه عاجزه پاته سی او ددی ناحیی څخه مشکلات حس کړی. پس میندو ته دا لازمه ده تر هغه ځایه چی ممکن وی وخپلو وړوکو لوڼو ته دا موقع ورکړی چی د کور په چارو کی برخه واخلی.

د نړۍ نامتو میرمنی :

الکساندرا داوی دووا

الکساندرا داوی دووا یوه روسی شاعره ده چی نوم به ئی هیڅکله هیر نه سی. الکساندرا ځرنګه چی د ستر ګو څخه ئی ښکاریده په زړه کی ئی یو پټ غم درلود. او تل به په انزوا او کوڅه والو کی اوسیده. هیڅ ئی علاقه نه درلوده چی د چا سره وږغیږی. تر څو چی په یوه اوږده سفر کی د «فول کو سیکا موره وی وا» او تروبستکایا په تعقیب سایبریا ته ولاړه. ښایی دی داسفر دخپل غم دغلطو لو لپاره غوره کړی ؤ.

الکساندرا خپل کوچنیان بی سرپرسته پریښوول. او په دی نسبت دخپلو اشنایانو تر سخت انتقاد او سرزنش لاندی راغله په داسی حال کی چی دا پوهیده چی کوچنیان ئی ودی ته سخت ضرورت لری. مګر نه ئی سوای کولای چی دخپل عزم څخه ، اوړی دی داسفر دځان لپاره یو تبعید باله داسی تبعید چی د مه څخه دخلاصون لار ئی نه سوای پیدا کولای.

د کوچنیانو لیری والی ئی هر وخت دا څورول. دی خپل دوست «لیترزوسکی ژور» ته ولیکل چی یو آن می خپل کوچنیان نه هیریږی ددوی طفلانه عشق او محبت به می هیڅکله دغم ځیلی زړه څخه ونه وزی. ځرنګه چی دلیونتوب مرحلی ته رسیدلی وم. مجبوره وم داسفر وکړم. پوهیږم چی کوچنیان می هم ماغوندی په تبعید کی ژوند کوی خو فعلاً می دلاسه څه نه کیږی. او نسم کولای هغه لوی غم چی زما په زړه کی دی خلکو ته ځرګند کړم څو هغوی زما دسرزنش څخه لاس واخلی.

په ۱۸۵۶ کال کی دداوی دووا میړه له جهانه سترګی پټی کړی دی دمیړه ترمرګ وروسته خپل کوچنیان سره راټول اولو یه کورنی ئی جوړه کړه چی دپخوا په نسبت دماشومانو لپاره یو ښه مورشوه. دی دخپلو ماشومانو په تعلیم او تربیه کی یوه دقیقه هم غفلت نه اوه تر څو چی خپل او لادونه د هیواد او هیواد والو لپاره وروزی.

د روسی مشهور کمپوزیتور پیترو چی کوفسکی وروسته تر هغه چی الکساندرا ئی ښه و پیژندل ددی په عفت او پاکلمنی ئی اعتراف وکړ خو خپله خور ئی ددی داوو زامنو دجملی څخه و یوه ته په نکاح کړه.

دماشوم ورزش

طبیعت تندرسته او باصحته ماشوم دی ته را بولی چی په خپلو پښو اولاسو ورزش وکړی. نو په دی نسبت وخاصو تمرینو ته اړتیا نه لری ځکه نو دمیندو وظیفه داده چی دماشوم حرکات تنظیم کړی. دشیرخوره ماشوم ورزش ډیر ساده دی او دهغه لپاره غوره ورزش دادی چی هغه په ورځ کی څو واره پرنس پری باسو تر څو چی دشادمهری هډوکی ئی ټینګ شی.

البته داورزش په څلورمیاشتی کی دی په ۹ میاشتنی کی ماشوم هڅه کوی چی دد یوال یا کومی بلی تکیه ګاه په مرسته دیو ځای څخه بل ځای ته حرکت وکړی. په دی وخت کی دی چی ماشوم پر څلورو ځی ښه لاره به داوی چی دهغه لپاره یوه څلور کونجه پنجره چی ماشوم وکولای شی آزادانه پکښی حرکت وکړی جوړه کړو. تر څو چی د اور او نورو خطرونو څخه ساتلی وی. په دی دوره کی باید ماشوم مجبور نه کړه شی چی ودریږی. ځکه ممکنه ده چی د پښو هډوکی ئی کاږه سی ځکه کله چی دونه قوت یعنی دولاړی قدرت پیدا کړی پخپله پر پښو دریږی او دا عموماً په پنځلس میاشتی کی صورت مومی په دی سن کی دماشوم لپاره تر ټولو ښه ورزش پر پښو تګ دی.

(د ۱۳ مخ پاته)

دنطاقی دهنر دزده کړی...

فشار راوړل دنطاقی دضرورياتو څخه دی. دلته يوه بله نکته د يادولو وړده او هغه داده چی

دآوازتون يو طبيعی کاردی او دمشق او تمرين په سبب ډير لږ تغير پيدا کوی. يعنی دآوازتون

د اعصابو د کنټرول بر عکس پرورښت او تربيه نه قبلوی او په هغه خپل طبيعی حالت پاتی کيږی

پس هغه کسان چی دآواز دتون په خرابی مبتلا دی آوازئی ګيرا او موثر نه وی ښه داده چی دخبرو

په وخت کی کرار کرار خبری وکی او دخبرو تر پايه پوری دغه موازنه وساتی.

٤- دلاس، اوږو، ورځو، سر او دتندی حرکتونه هم هغه عوامل دی چی دنطاقی به هنر کی

مؤثر رول لري. او دغه عوامل په حقيقت کی دکلمو او جملو مرستيالان دی. او و يو نکی

مکلف دي چی دنطاقی په وخت کی دهغو څخه استفاده وکی او په هغو ځايو کی چی ايجابوی يی

هغه تطبيق کی ليکن په دغه عمل کی

افراط دموضوع قيمت او دنطاق اهميت دمنځه څخه وړی. او ضمناً په دی وخت کی داوريدونکو

بی علاقه کی هم څرګندېږی.

سر بيره پردی بی مورده حرکتونه چی دجملو او کلمو سره

انطباق پيدا نه کی تر زياتی اندازی پوری بد ايسی او په اوريدونکو باندی تر زياتی

اندازی پوری منفی تاثير ښندی.

دلاس، اوږو، ورځو او تندی حرکتونه اوښورول ډير مشکل

دی. او دغه کار زيات دقت غواړی او په دغه برخه کی لږ بی پروايی دموضوع ټول خوندونه له منځه

وړی او ويونکی سپکوی په حقيقت کی دغړو حرکتونه دنطاقی دنورو ټولو عواملو په شان حساسيت نه

لری. دمنطق ضعف، داعصابو دنه کنټرول او د ويلو د موضوع خرابوالی او ددغه په شان نور

شيان که څه هم دنطاقی د هنر دعيبونو څخه شمېرل کيږی او ښايی داوريدونکو بی علاقه کی منځ

ته راوړی ليکن دبی مورده بی

ځايه او نامناسبه حرکتونو په شان بد تاثير په اوريدونکو باندی نه کوی.

دا په يادولری چی دنطاق دهنر تر ټولو

اړخونو اهميت لري. دهغو تطبيق او عملی کول ډير زيات مراقبت غواړی ځکه ډير امکان لری چی، دلاس سر، ورځو، تندی بی مورده او نامناسبه حرکتونه دويونکو دتحقير، سپکتيا سبب ګرزی او په اوريدونکی کی هرج ومرج پيدا کوی.

دخبرو پای ته رسول:

دخبرو پای ته رسول هم يو ځانګړی هنر دی او زيات معلومات او تجربی ته احتياج لری. دراډيو دمکرفون تر شاه

خبری کول او يوی ټولنی ته خبری کول دا فرق لری چی دراډيو خبری کوونکی په ابتدا کی د يو لړ مشکلاتو سره مخامخ کيږی او دلومړنيو جملو دبيانولو څخه لږ نا آرامه کيږی. ليکن دخبرو په پای کی دهيڅ ډول ممانعت سره نه مخامخ کيږی ځکه اوريدونکی په خپل مقابل کی نه وينی او دا نه وينی چی دد، وروستيو خبرو اوريدونکی کوم حالت ته رسولی دی.

ده ته دا کار کوم تفاوت نه لری او هم داوريدونکو څرنګه والی يی په اعصابو باندی تأثير نه کوی.

ليکن برعکس هغه خبری چی●

دیوی ټولی په حضور کی کیږی ډیری سختی دی او ویونکی دیوه پرابلم سره چی په حقیقت کی لکه

دخبرو شروع کول د بولړ زیاتو مشکلاتو سره مخامخ کیږی په دغه وخت کی و یونکی دیوه میلمه په

شان دی چی نه پوهیږی په څه ډول په مؤدبانه ډول د کور د څښتن څخه رخصت واخلی که دمخه د دغه پرابلم

حل کیدو ته ځان چمتونه کی او د خبرو د پای ته رسیدو جملی یی په خپل ذهن کی نه وی جوړی کړی

هغه وخت نو بی لزومه او دموضوع څخه د باندی خبری ځینی کیږی او دخبرو د پای ته رسیدو لاره نه سی

پیدا کولای.

پس د نطاقی هنر دا امر کوی چی و یونکی لکه څرنګه چی دخبرو،

دشروع کیدو د پاره احضارات نیسی او لکه څرنګه چی دخپلو اعصابو دکنترول دپاره مشق او تمرین

کوی په هم هغه صورت د خبرو د پای ته رسیدو د پاره دی هم مؤثره جملی ترتیب او دهغو په ویلو سره

دی خپلی خبری پای ته ور سوی.

یوه دهغو لاره څخه چی خبری په مؤثره توګه پای ته ورسیږی داده

چی و یونکی باید ویل سوی مطالب یو ځل بیا په خلص ډول سره بیان کی. ددغه روش څخه دوه

اساسی مطلبه اخیستل کیږی.

یو دا چی خبری په جالب ډول بیله کوم مشکل څخه سر ته رسیږی بل دا چی موضوع یو ځل بیا په خلص

ډول سره د اوریدونکو په ذهن کی تازه کیږی او هغه مطلب چی و یونکی یی په نظر کی لری په جالب

ډول مؤثریت پیدا کوی.

هغه وخت چی و یونکی خبری پای ته رسوی اوریدونکی په ډیر

میل او آرزو سره دخبرو د پای ته رسیدو سره دلچسپی او علاقه ښکاره کوی. او دا انتظار لری چی دویلو

څخه یوه نتیجه لاس ته راوړی.

همدغه ځای دی چی و یونکی دیوه نوی پرابلم سره مخامخ کیږی.

که دمخه احضارات ونیول سی په ډیر زیرک ډول د اوریدونکو په ذهن کی ښه اثر ښندی.

په پای کی د نطاقی دهنر اساسی نکات دلته داسی خلاصه کوو.

۱- د بیانولو موضوع باید ښه تحلیل کو او په هغه باندی باید مطلق حاکمیت تامین کر.

۲- دموضوع اساس او مهم نکات باید په جلا ډول یاد داښت کی.

۳- دخبرو په وخت کی باید همیشه درست و دریږی او یوه خندانه څهره پایدو لری.

٤- خپلی خبری په ډیره آرامی او پوره متانت سره شروع کړی.

٥- دنامطلوبه او بی مورده حرکتونو څخه باید ځان و نه ژغوری

٦- کوښښ وکی خپلی خبری په مطلوب ډول پای ته وسوی.

(د ۱۵۵ مخ پاته)

د وجودیه و...

دوجودیه مذهب موږ اساسی او درونی پرابلمونو ته متوجه کوی.

او تر ټولو مهم دا چی هر متفکر فرد تشویقوی ددغو پرابلمونو سره تر هغه وخته پوری پنجه نرمه کی چی داذت په اصالت بریالی سی.

اګزیستانشلزم دنظری لاری څخه دارادی دلاری د (حقیقت) د پوهیدو او د شخصی (حقیقت په قبضه کی راوستلو) ترمنځ فرق ته قایل وی. پاسکال عقیده لری چی په خپله حقیقت هغو مره مهم نه دی لاکن د تلقی طرز د هغه په باب زیات اهمیت لری.

کرکیګارد او جاسپرز هم دغه نکته تأئیدوی او وایی چی د پوهی حاصلول بیله درونی طرز تلقی څخه بیهوده او عبث دی. هغه دانش او پوهه چی دمتفکر شخصیت متاثره کوی خطرناک دی. دانش او پوهه هغه وخت ګټور دی چی دمافی الضمیر په تنویر او تغیر کی برخه واخلی.

دلویانو خبری

خندا دژوندانه سره دجنګ ډیره ښه وسیله ده.

(پیکن)

ځوانی دلیونتوب یوه ځانګه ده.

(مادام دواشتال)

علم تواضع راولی او جهالت د کبر او غرور منشاء ده.

(بوعلی سینا)

دسوسیولوژی دبحثونو په لړکی

دفدا «خوار یکښ» لیکنه

مادی تولید د اجتماعی تکامل بنسټ دی

دانسانی ټولنی تاریخ دخپل مضمون له مخی د بیلو بیلو اقتصادی او اجتماعی شکلونو چی فرماسیون یا جوړښت نومیږی د پرله پسی والی او تسلسل تاریخ دی.

موږ به د بیلو بیلو اقتصادی او اجتماعی جوړښتونو د شکلونو په باب پرخپل ځای و ږغیږو یعنی غواړو د دغه ټکی یادونه وکړو چی د هر فورماسیون مادی او اقتصادي بنسټ د اجتماعی ژوندانه د تولید او تجدید تولیدي طرز د مترقی ټولنی پیژندنی یوه مهمه مقوله ده چی پخپله د دوو برخو څخه مرکبه ده.

۱- تولیدی قواوی.

۲- تولیدی مناسبات

۱- تولیدی قواوی څه شی دي؟

«تولیدی قواوی د طبیعت سره د انسان د رابطی ښکارندوی دی او هغه قوتونه دی چی د مادی شتمنیو په تولید کی ګډون لری» لکه د تولید وسایل (افزار، تولیدی موسسی سړکونه د حمل و نقل وسایل) او هغه انسان چی دغه په تولیدی فعالیت کی په کار اچوی او تکمیلوی ئی (لکه صنعتی کارګران، بزګران تکنیشنان، مهندسین او هغه پوهان چی د تولید د پراختیا په تخنیک لګیاوی.)

دا چی انسانان د تولید د څرنګه وسایلو یا د څه ډول تخنیک سره سروکار لری، د طبیعت سره د انسان د رابطی او پر طبیعت د د. د تسلط د درجی ډیر ښه ښکاروندی دی. د کار افزار د ټولنی مادی، فنی بنسټ دی له هغه ځایه چی افزار او تخنیک بیله انسان څخه مړه او بی تاثیره دی نو ځکه په تولیدی قواؤ کی ټاکونکی عنصر او د تولید اساسی قوه پخپله انسان دی.

۲- تولیدی مناسبات څه شی دی؟

تولیدی مناسبات هغه مناسبات دی چی انسانان د مادی شتمنیو د تولید په جریان کی هغه ته ننوزی. او د انسانانو ترمنځ د هغه ډول ډول مناسباتو سیستم دی چی په ټاکلی تولیدی طرز کی د مالکیت شکل د اجتماعی طبقو او قشرونو وضع به برکی نیسی لکه د مالکیت مبادلی او توزیع په جریان کی د انسانانو رابطه، پخپله د تولیدونکو ترمنځ اړیکړ، د اجتماعی کار دویش مسئله. د یوه مشهور پوپه عقیده هر تولید په ټاکلی اجتماعی شکل کی او د همدغه اجتماعی شکل په وسیله د انسان له خوا د مادی شتمنیو ایجاد دی خو دغه تولیدی مناسبات پر دوه ډوله دی.

۱- د مرستی او همکاری مناسبات.

۲- د حاکمیت او تبعیت مناسبات

دغه دوه خصلته د تولید د افزارو او وسائلو په نسبت د انسانانو په مناسبا تواړه لری. که انسانان په ډله ایزه توګه (کلکتیف) د تولید د افزارو او وسایلو څښتنان وی او د یوی ګډی کورنی په توګه ژوند وکړی د دوی مناسبات حتماً د مرستی او همکاری مناسبات دی. خو که د ټولنی یوه برخه د تولید د وسایلو څښتنه وی او بله برخه د هغه څخه محرومه وی حتماً لومړی برخه دغه بله برخه د ځان تابع کوی او لوړوالی غواړی. انسانان د خپل ژوندانه د ضروری شرایطو د ایجاد د پاره مجبوراً وداسی مناسباتو ته ننوزی چی د دوی

«پاته په ۳۰ مخ کی»

د سردار شاه ترجمه او څېړنه

مارکوپولو د چین د خاقان په دربار کی

دده د سفر سړی د تودې او د افغانستان څخه د تیریدو په وخت کی د هغه خاطرات

(دریمه برخه)

چی د هغه وخت د احترام علامه وه.

د اختر په ورځو کښی به ډیر خلک تر عادی وخت و دربار ته دعوت کیدل چی تعداد به ئی ۱۲ زره کسو ته هم رسیده. د دی هر نفر لپاره به قوبلای خان ښه لباس او موزی برابرولی.

چی لباس به ئی په سرو زرو مرصع سوی وو او کمربند به ئی بالکل د سرو زرو څخه جوړ سوی وو. چی هغه لباسونو د نن ورځی د (لس زرو پونډو) قیمت درلود یعنی یوه جوړه کالی ئی د دومره ارزش درلونکی وه.

په دربار کښی هر میلمه د معاشرت دا دابو احترام کاوه نظم او د سپلین بلکل بر قرار وو

ټول خلک به یوشان او یو رنګ وه. په دربار کی به راز راز نمایشونه او بازی کیدلی چی د هنری بازی او نمایش فکر پخپله و یونکی وهلای سی چی څومره به ښکلی او حیرت آوره وه.

د خاقان (قوبلای خان) په دربار او مملکت کښی هر څه غیر عادی وه.

قوبلای خان په اداری وضع ډیر ښه پوهیدی. دده په وخت کښی د مملکت نظم و نسق د نن ورځی د لویو مملکتو په شان وو. صنعت او هنر زیات پر مخ تک کړی وو، قوبلای خان علاوه پردی چی سکه ئی په خپل نامه درلوده د نن ورځی په شان ئی کاغذی نوټونه چاپ کړی وه او د پیسو لپاره ئی طلا پشتوانه ټاکلی وه. د شیانو نرخ به ثابت وو او مامورینو ئی په کافی اندازه معاشونه درلودل. په ښارو کښی وضع ډیره سمه وه - یعنی په هغه وخت کښی ئی ښه ښه سړکونه - لیاری مسافرخانی او داسی نور د هوسایی وسایل درلودل.

پیکینګ په هغه وخت کښی ډیر لوی ښارؤ چی مساحت ئی ۲۰ میله مربع ته رسیدی پوسته او ارتباط ډیر منظم وه هر چا کولای شوای د پوستی له لیاری ځینی ځایو ته لیکونه واستوی.

قوبلای خان د چین دا بادولو لپاره ډیر زحمت وایسته او ډیر کارونه ئی وکړل.

دده په وخت کښی خفیه کسان موجود وه چی هر راز حالات به ئی هره ورځ د امپراطور تر غوږه پوری رسول.

قوبلای خان پخپله د ملک اداری چاری د چنائیانو پلاس نه ورکولی یعنی د هغه وخت ډیر لوی آمرن ځینی عربی او یا د آسیا د نورو ځایو خلک وه چی و چین ته راغلی وه او د امپراطور د اعتبار وړ ګرځیدلی وه. د دی کار علت دا وو چی اغتشاش به هیڅ نه پیښیدی او دا دده د لوی فکر نتیجه وه چی دده د مرګ تر وخت پوری د دوی په مقابل کښی څوک و نه دریدل.

د قوبلای خان عسکری قدرت هم ډیر پراخ وو چی حتی یوازی ئی د سپرو عسکر و شمیر به سلونو زرونه وه.

لنډه دا چی د خاقان د خان هر څه غیر عادی وه. چی دلته به دو یونکو لپاره دده د ښکار په باره کښی چی هغه هم په

یو غیری عادي ډول وو څه ولیکو:

مارکوپولو د قوبلای خان دښکار په باره کښې چې دده لپاره ډیره په زړه پورې وه داسې تشریح ورکړیده:

قوبلای خان به په هرحال کښې دسپټمبر دمیاشتې څخه دفبروري تر میاشتې پورې په یوه اوږده سفر دچین دجنوب ختیځ وخواته تلی چې په ضمن کښې به ئې ښکار هم کاوه.

قوبلای خان د خپل ښکار لپاره دهغه وخت ډیر وسایل درلودل چې دهغو څخه سپیان، تازیان، پړانګان او بازان وه چې په دوی به ئې ښکار کاوه که څه هم دپړانګ تربیه څه آسانه کار نه وو مګر بیا هم دوی په ډیر زحمت هغوی روزل څو په ښکار کښې ورڅینې ګټې واخلي.

امپراطور خاقان به ددغو حیواناتو په وسیله ځینې نور حیوانات لکه ځینې مرغان ګیدړی- چغالان، پسوته، وحشي ګوزن، ګاومیښې او ځینې نور لوی حیوانات ښکارول.

وختي چې به قوبلای خان په ښکار تلی دده دور سره نفرو شمیر به وزرونو کسو ته رسیدی لکه چې مارکوپولو وائي یوازې دخیمو شمیر به لسو زرو دانو ته رسیدی. په دې ښکار کښې به یوازې تازیان پنځه زره دانې وه چې په یوه قطار به روان وه او هر ډول حیوان چې به په مخه ورتلی بیا به نو دنجات لاره ورته نه وه او فوراً به تازیانو حمله پرکول څو حتماً به ئې ونیوی.

خاقان به پخپله پر فیل باندې سپوروو چې په سروزرو به نقاشي شوي وو او نور ټول اراکین به ئې پر څنګ پرېښو او یا سپاره ورسره تلل.

پړانګان به ئې په ځینو سرپټو ګاډیو کښې راوړل چې په مجردي به ئې کوم لوی ښکار چې د تازیانو او سپیانو تر عهدې وتلی وو ولیدی نو به ئې پړانګان راوایستل او دهغو دنیولو لپاره به ئې ګمارل. دعقاب ښکار ئې هم دلیدو وړ وو کله چې به ئې عقاب وکرم ښکار ته وګماري هغه به هم سمدستي هغه ښکار په خپلو منګلو کې ونیوی او وزرونه به ئې دهغه پرسترګو نیول څو لاره ونه وینې چې په دې ترتیب به نوروغ او ژوندي حیوان دخان او دهغه دملګرو په لاس ورتي.

کله چې به ئې داستراحت وخت نژدې شو سمدستي به لس زره خیمې به ووهل شوي چې دخیمو ټولې رسیانې به دوریښمو څخه جوړې شوي وي دخیمو دننني برخه به په ډول ډول غالیو فرش سول.

دخان هغه نفر چې به دده سره په ښکار کښې ملګري وو نو یو بالاپوښ ورکول کیدی چې دپړانګ او یا دقاقم دپوست څخه به جوړ شوي وو. چې په هغه وخت کښې دهر پوست قیمت یو زرطلاوي وي- چې دټولو بالا پوښو قیمتونه به نو تر حساب وتلي وو.

په دې ښکار کښې به سازونه او سپورټي نمایماشات هم چالان وو- یعنې په داسې ډول چې صفت ئې په قلم نه کیږي لنډه دا چې ویونکي دخان دښکار څخه داحدس وهلای شي چې واقعیت په هغه وخت کښې څرنګه وو.

خو دا باید ومنی چې دخاقان په سویه ژوند هیڅ امپراطور نه دی کړی.

دیونن ښار د لیدو لپاره دمارکوپولو سفر

دلته به دمغولي امپراطورانو یا په اصطلاح د خاقانانو دادارې وضع په باره کښې څه ووایو. چې خاقانانو څرنګه چې نه شوای کولای دخپل هیواد له هرې برخې څخه شخصاً لیدنه وکړي څکه ئې نو ددې کار داجرا لپاره داعتماد وړ ملګري درلودل چې دهغوی په وسیله به ئې د هیواد د هرې نقطې څخه معلومات به لاس راوړل.

دامامورین به ئې ددې لپاره وډیرو لیرو نقطو ته استول څو چې دخلکو وضعیت دنژدې څخه ووینې او دحاکمانو رفتار دخلکو سره وګوري. نو هر ډول معلومات چې به ئې قوبلای خان ته راوړه بیا به نو قوبلای خان هغه حاکم ته مجازات او یا به هم مکافات ورکول خو لنډه دا چې مارکوپولو یې هم ددې کار لپاره وګماره: څکه چې دی دامپراطور دډیرو معتمدو او نژدې دوستانو څخه شمیرل کیده، څو هغه وو چې مارکوپولو ئې د دیونان دښار دلیدو لپاره واستوی

او دا ماموریت ئی ورکړی چې هغه
ځای د نوی څخه وګوری. د یوان
چارد پیکینګ اوړد لن ورځی

(د کمنګ) د چارو ترمنځ
پروت وو. او د دی چارو ترمنځ یوه
شاهراه او مارکوپولو د خپلو

ملګرو سره د آس په سپرلی پر دغه لار
روان شول او د ورځی به ۲۵ میله
لارطی کول چې په دې حساب او

باید په درې نیمو میاشتو کې وخپل
مطلوب ځای ته رسیدلی وای
خو هر نګه چې مارکوپولو هر ځای

توقف کاوه نو همدا وجه وه چې
پسله هغه رومیاشتو وهغه ځای ته ور
سیدل د غه شاهراه چې پر هر طرف ئی

د چین ډیر ډنفوسو نه ډکې ځمکې
پرتې وې هغه پخوا ئی آثار او
تمدن د دې لیاری په شاو خوا کښې

بنه لیدل کیدل. هر نګه چې دې د
خاقان شخصی کمیشنر وونو په هر
ځای کښې به ئی عزت کیده او د نوی

منطقو او ځایو د لیدو لپاره به شرایط
چې ورته آماده وه. مارکوپولو بدی
لپاره کښې یوه شی ته اشاره کړیده

هغه دا چې ده پدی لیاري کښې یعنی
د پیکینګ د چاره څخه لس میله
لیري د رود برغ ده. یوه پرتا یسته

پل لیدلی دې چې د رو تا یسته او
او یو پلو نو څخه شمیرل کیدی دا
پل چې د (هون هو) پر رود باندی

آباد شو بدې په هغه وخت کښې عرض
په دی اندازه وو چې که لس زره
تنه څنګ پر څنګ باندی سر
د ریدلی وای لاهم. د دی پله عرض

ور باندی لوی وو د دی پله پر سر باندی
د زمریانو او ځینو اورو حیوانا تو
مجسمی لیدل کیدې او موږ ی پل

په داسی سستم جوړ شوی وو چې که
به کوم قافله ور باندی تیریدل او
پل به دفشر په ډول پور ته او کښته

کیدی. دپله په هاخوا د (چوچاو) چار
پروت وو چې د چا یست څخه ئی لیدو
نکی حیرانیدل. پدې چار کې او

موږ ی شاهراه څخه دوی اوړی لاري
جلا کیدی چې یوه ئی د چین وجنوب
او بله ئی د غرب و خوا ته تلل. خو

مارکوپولو د غرب خوا ته ولاړ.
مارکوپولو سره له خپلو ملګرو
وروسته له لس ورځی د (پوتنګ-

چنګ) او (تای یون) وچا روته
ورسیدل چې چا یسته عمار تونه
او هوټلونه ئی د رلو دل او د هغه

ځای څخه ورو سته له یوی هفتی د
(ینګ یانګ) وپخوانی او مشهور
چار ته ور سیدل د دی چا رڅخه

تقریباً ۲۵ میله لیری مارکوپولو
ژر رود ته ور رسیدی چې پر دی رود
د ډیر پراخوالی له کبله پل نه شو

جوړ یدلای خو مارکوپولو له دی
رود نه هم تیرشو او د (چاکان)
وپخوانی چار ته ور سیدل- چې د هغه

وخت د بیخی چا یسته چارو څخه وو.
د هر ډول بار کو، باغو، هو ټلو او
تعمیراتو در اوونکی وو. او هلته

د قوبلای خان زوی (منګلی) حکومت
کاوه- مارکوپولو د هغه سره د هغه
په قصر کښې وایدل چې ټول قصر ئی
پر رنګ و روغن او طلا باندی چا-

ګسته. شوی وو یعنی قصر ئی په دی اندازه
چګلی وو چې مارکوپولو د هغه په شان
بل چګل قصر نه وو لیدلی.

مارکوپولو د ته د قوبلای خان
د توصیی سره سم چارې وضع مطالعه
کړه او ورته معلومه شوه چې په دی

چار کښې امنیت او انتظام بیخی سم
وو او ټوله خلک خوښ او خوشحاله وه.
مارکوپولو د دی چار د لیدو نه

ور وسته د «شنسی» د ولایت له لاری
و (زیجان) ته روان شو او د ده د اصلی
هدف یعنی د (یوان) د چار څخه ئی زر میله

فاصله د لو دل. د ده د دی لاری په اوږدو
کښې د (هان چنګ) چار ته ور سیدی هګه
چې لاره ئی ډیره خرابه وه د دی ځای ټول

خلک به بزګری اخته وه که څه هم خلک
ئی ټول غریب کاره. بیا هم د دی چار
پاشاو خوا کښې مجلل قصرونه لیدل کیده

مارکوپولو د دی چار د لیدو نه ور وسته
د (یاچاو) چار ته ور سیدی او هغه لاره
چې و دی چار ته تللی وه ټوله ځنګلي وه

یعنی ټوله لاره د باس به درختو باندی
پوښل شوی وه. هر نګه چې له یوی خوا
په دی لاره کښې بې انګان ډیرو. او د

بلی خوا باس د لرګو به اکثراً او د
اخیست چې ډیر خطرناک
صحنی به ئی تشکیلول هو مارکوپولو

ئی دی ته ډکې چې باید پدی منطقه
کښې اور پاتی نه شی او ژر ځان د
(یاچاو) چار ته و رسوی. کله چې

مارکوپولو د دی سرحدی چار ته
ور سیدی وئی لیدل چې خلک ئی
اکثراً وحشی دی او هری قبیلی

«باته د پښتی به ۳۰ مخ کې»

(د ۳۱۵ مخ پاته)

ځوانان او...

دخپل ژوی دچ ژوبه اثر وو ژل سوه.

وړو کی نائل د محکمی د یوه

سوال په جواب کی وویل:

ما نه غو ښتل چه خپلا مور ووژنم خوما یوازی دهغی صحنی

تقلید کاوه کوم چه د سینما پر پرده می لیدلی وه.

واقعاً هم د اسی ده

ددی ډول فلمود خپرید و په نتیجه کی بیله دی چه دهغو تنو گیډی مړی سی بله کومه گټه

نلری به لو یدیځه اړی کی فلمونه خو غه چه د تلو یزیون د پردو غه لاهم د جنایی او پو لیسی نمایشا تو

داچرا د پار ه استفا ده کیږی په دی کار کی به ا لبته هغوی خپل مقصدو لری خو اوس دنړی ټولنه

پیژندو نکی دی نکی ته متو جه سویدی او د دی لپا ره چه هوا نان ددی ډو ل فلمو نو د لید لو غه

ډډه و کړی یو لړ تبلیغات شروع کړیدی.

دیو نسکو مو سسی په دی باب یو ټولی احصا ئیه خپره کړیده

چه د اسی لیکی:

اوس په امریکا کی دمنحرفو هو انانو او پیغلو غه په سلو کی لس او سلو کی ۲۵ د جنایی فلمونو دلیدلو په نتیجه کی جنا یتونو تا تشویق سویدي.

په سلو کی ۴۹ ځوانان دفلمو دلیدلو په نتیجه کی تشویق سوی- دی چی وسلی و گرځوی، په سلو- کی ۴۵ هو انانود همد ی ډول فلمو دلیدلو په نتیجه کی په غلا لاس پوری کړیدی، په سلو کی ۲۰ تنو ددغو فلمو دلیدلو په نتیجه کی دفاسدو اخلاقو رواجولو ته زړه چه کړیدی.

همدا رنگه په سلو کی ۲۵ تنی پیغلانی د جنایی فلمو دلیدلو په نتیجه کی بدنامی سویدی او خپل شرافتمند ژوند ی د لاسه ورکړیدی په سلو کی ۲۹ تنو میرمنو د سینمایی لوبغاړو د تقلید کولو په اثر نا مشرو ع عشق پا لنه شرو ع کړیده.

په دی باب د یونسکو موسی د (هوا نانو او سینما) په نامه یو کتاب هم خپور کړی دی او په هغه کی ئی د پولیسی فلمو او تلویزیونی نمایشا تو په باب د نړی د هوانانو خاصه پاملرنه غوښتی ده.

ډیرو گر انو ملگر و او هوانانو را سی چی سی مو ه هم د سینما یی پرو گرامو نو او فلمونو په برخه کی یوڅه تصنیف وکړی و او دهر ډول فلمو په لیدلو سره د یوی خوا خپل وخت تلف نکړو او د بلی خوا خپل اقتصاد ته زیان ونه رسوو او همدا رنگه د هوان نسل (کوچنیانو) را تلونکی ژوند هم په نظر کی ونیسو او هغوی د دا ډول مضرو فلمو ولیدلو ته تشویق نکړو، هو په دی وسیله مو د خپلی خړی ودې ټولنی د اصلاح په برخه کی یو مقدماتی گام ایخی وی.

(د ۲۶ مخ پا ته)

د مادی تولید...

په اراده یوی اړه نلری. بلکه په دید اړه لری چی هرنگه ئی تولیدی قواوی په لاس کی دی.

د تو لید ی قواؤ او تو لیدی مناسبا تو ترمنځ د یا لکتیکی را بطه هم په همدغه ورو ستی مهم ټکی کی ده.

تولیدی قواوی او تولیدی مناسبات باید یو د بله سره هماهنگه وی که چیری دغه مناسبات د تولیدی قو او د تکامل خنډ سی ټولنه د بحران و او ژده دوران ته داخلیږی تر هو چی بیا هماهنگو منځ ته راشی.

(د پشتې د دوهم مخ پاته)

د کندهار مجله...

د مساعدت په برکت د تحول او
شکوفانی برلور د وان دی خو نه
چې د یوې خوا د جمهوریت انقلاب

وسالمو مطبوعاتو ته د فعالیت
زمینه برابروی او په هغه اندازه
سالم مطبوعات د جمهوري نظام

د استحکام او بقا په لار کې فعال
سهم اوروللری.
په دغسې یوه علاقه دوره

کې موږ د کندهار د مجلې د تاسیس
خورلسمه کالیزه لمانځو او په
دې باور لرو چې د دغې مجلې

خپرونې د خپل ملي نظام له پاره
په ژړه پورې ارزښتونه لري.
په هیواد کې د جمهوري نظام

د تاسیس سره لکه د هیواد په نورو
مطبوعاتو کې چې هر کند تحول
راغلی دی نو د کندهار مجله هم په

خپل وار د دغه تحول څخه غنی او
مستفیده شویده.
د امهال چې د کندهار د مجلې

خورلسمه کالیزه لمانځو نو مناسبه
بولو چې د دغې مجلې د موسس
چاغلی ولی زلمی خدمت وستایو

او د هغو لویو لیکوالو څخه چې
هروخت یې د وطن پر ستې په
رو حیه د مجلې سره قلمي

همکاري کړیدې په درناوي
یاد ونه وکړو.

په درناوي

ا-ابراهیم عطایي

(د ۲۹ مخ پاته)

مارکوپولو ...

به د هغه له پاره خاصه ژبه او
کلتور درلود.

لکه چې مارکوپولو وائي
د دې چار تقریباً ټول خلک په
سحر او جادو اخته وه.

مارکوپولو پسله لږ توقف
څخه د دې چار څخه هم روان شو
او د (یانګ تاز) منطقې ته
ورسیدې چې د (یوان) د چارسره ئې
سرحد درلود او د دې لارې نه
هم تیر شو څو چې هغه ئې خپل
هدف (یوان) ته ورساوه. پولو
د دې چار د هغو عمارتونو او قصرو
د لیدو څخه هم حیران شو او ډېر
هغه شیان ئې ولیدل چې تر اوسه
پورې ئې نه وه لیدلي. د دې چار
د لیدو څخه ئې پوره خوند اخیستی
د ی او ډېرې ورځې هلته پاته
شویدې.

په دې چار کښې مارکوپولو د فیل
جنګ هم ولیدی چې د اجنګ
د برما لیانو او مغولانو ترمنځ
مخته وه او هر ځنګه چې په دې جنګ
کښې له یوې خوا د برما عسکر ډېر
مجهز وه او له بلې خوا ئې تعداد
هم پنځه چنده وه سربیره پر هغه
(۲۰۰۰) دانې پیلان ئې هم درلودل

خو بیا هم د مغولانو د جنګي
قوماندان د ابتکار او د مغولانو
د دلاورۍ په سبب مات شول او برما
د قوبلای خان د امپراطورۍ جز
وګڼل شو.

د اپیڅه مارکوپولو لو بخپله
لیدلې ده چې ډېره عجیبه ورته
معلومه شویده. (نور بیا)

کندهار

ن بیا په جم وجوش وینمه چار د کندهار
د پوهی چه رونق لری بازار د کندهار
دانښه د اقبال نه ده نو څه ده په معنی کښی
خپریږی کندهار کښی ښه آثار د کندهار
تاثیر ئی جامعه باندی څرګند د ښو اثر دی
چی اوري کندهار باندی انوار د کندهار
هرشی ځانته جلا د خوند تاثیر لری په خوله کښی
ترقندو خوند کښی زیات وینم ګفتار د کندهار
فقط دیرش افغانی دي اشتراک د مجلی ئی
ځان کړی مشتر کینو کښی شمار د کندهار
که غواړی خپرو نو باندی پوه د مجلی شی
علمی او تاریخی بولی آثار د کندهار
خدمت ته ئی لازم دی چی د زړه په اخلاص باندی
ځانونه کړی لیکوال ټوله بیدار د کندهار
په متن کښی دی تل تازه شعرونه مضمونونه
خاوند دی نه کړی کله نصیب خوار د کندهار
توفیق د ښه خدمت و چلو ونکی ته ئی غواړم
چی شی ترینه و ګړی برخوردار د کندهار
روښانه رڼا ورځ د ښه ژوندون غواړم له خدایه
څښتن دی هیڅ ماښام نه کړی سپار د کندهار

د کندهار دولتی مطبعه